د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

توضيح پاڼه

ديويد منسفيلډ و پاول فيشستين

وږی۱۳۹۲

# سترګې پټول او مسامحه:
# د انتقال په دوره کې له مخدره توکو سره مبارزه

## د موضوعاتو لړ ليک


د مطلب لنډيز ........................... ۱

۱. په يو څرګند حقيقت سترګې پټول .....۲

۲. د انتقال جريان: پريږدي چې په سلهاوو ګلان وغوړيږي .......................۵

۳. په ګلونو د دښتو بدلول ............۱۲

۴. يوه واقعي هر اړخيزه موضوع .....۱۵

۵. کومې خوا ته تګ؟ ................۱۹


## د ليکونکو په هکله


ديويد منسفيلډ يو خپلواک سلاکار دی چې په افغانستان کې يې د خلکو پر ژوند او معيشيت باندې د کوکنارو د کرکيلې د اغيزو په هکله په ۱۷ پرله پسې فصلونو کې ساحوي څېړنې په غاړه اخيستي دي.

پاول فيشستين (په کرنه او اقتصادي منابعو کې د ماستري درجې لرونکی) د افغانستان د ارزونې او څېړنې د اداري پخوانی رييس وو چې د افغانستان يې تجربې له ۱۹۷۷ کال څخه پيل شوي دي. اوس هغه يو خپلواک سلاکار ده.


## د مطلب لنډيز


اوس جوته شوی چې د مخدره توکو توليد او سوداګري به نه يوازې په اقتصاد، سياست او امنيت ډيره ستره اغيزه ولري، بلکې له انتقال څخه د وروسته افغانستان د ځمکې په فزيکي جوړښت باندی به هم خپلې اغيزې وکړي. د کوکنارودکښت کچه همدا اوس زياتوالی مومي؛ د کوکنارو د کښت سيمه په ۲۰۱۲ کال کې ۱۸ سلنه پراخه شوی، اوداسی څرګنديږی چې په راتلونکو څوکلونوکې به لا ډير پراخوالی ومومی. کيدای شی دغه ميلان نورهم پراخ شی کله چې سياسی – نظامی فعالين له يوبل سره معامله وکړی او په ۲۰۱۴ کال کی له ناټو څخه افغانی ملی امنيتی قوتونو ته د امنيتی مسوليت د ليږد سره سم ايتلافونه جوړکړی.

که چيری د ناټو قوتونه پاتې هم شي، د افغانستان د دولت قهری قوه چې په ځينې ولايتونوکی لا پخوا د مخدره موادو پرضد هڅوکی د "مودل" يا "نمونې" په نامه ياديږی، لږ ده . داسې ښکاری چې په داسې ولايتونولکه هلمند او ننګرهار کې د کوکنارو کرکيله په هغو ځمکو کې چې په آسانتيا سره د لاسرسی وړ او ښيرازی او آبادی وی ډيره پراختيا وکړی که چيری ناټو او افغانی ملی امنيتی قوتونه خپل عمليات په هغو سيموکی چې دولت په تاريخي توګه پرهغو کنټرول لری، و دروي. کله چې امنيتی قوتونه سيمه پريږدی، دولت به يا د دغو سيمو کنټرول دولتی ضد عناصرو ته پريږدی، او يا به د نوموړو ځايونو قدرت محلی دلالانو ته و سپاری چې کيدای شی د کوکنارو د کرکيلی له لړوالی سره لږ علاقه ولری، او يا حتی هغه تشويق هم کړی.

د کوکنارو د کښت لازياتوالی په هغه صورت کی هم د تصور وړدی، کله چې مخدره توکی يوځل بيا په هغو ځايونولکه غور، لغمان او حتی بلخ کې چې پخوا له " کوکنارو خلاصی" سيمی ګڼل کيدي، رواج پيداکړی. ښايی د سهيل په هغو دښتو او سيموکی چې پخوا يکی کوکنار نه کرل کيدل، د کوکنارو د کرکيلی باالقوه پراخيدل دستری انديښنی وړ وی. له نوی تکنولوژی لکه د ژورو څاګانو، ګياه ضد موادو او د لمر له انرژی څخه ګټه اخيستنه د کوکنارو له کښت سره کمک او مرسته کوي، د حاصلاتو بيه ټيټوي او د توليد د زياتوالی لامل ګرځي. په همدي توګه د مخدره توکو پر ضد او د انکشاف لپاره بی نتيجی او کمزوری پلان شوی هڅی پر له پسی، له دوام لرونکی نړيوالی غوښتنو سره يوځای د کوکنارو د لازيات کښت لپاره زمينه او انګيزه برابروی.

د کوکنارو زياتيدونکی کښت د هيواد د سياسی اقتصاد په مقابل کی پراخ مشکلات رامينځ ته کوی. د کليوالی ژوند په يوی له رقابت او هڅوڅخه ډکي قضاکی، د مخدره توکو په ګټه او ضد پاليسی دواړه، د ملاتړ او اختلاف لويه منبع ګڼل کيږی. د طالبانو تاريخ څرګندوي چې هغوی د کوکنارو له کرکيلی څخه په فعاله توګه ملاتړکوی ترڅو د خپلی ستراتژی د يوې برخې په توګه د کليوالو خلکو حمايت او ملاتړ جلب او د ولايتی اداری له کمزوري سره مخامخ کړی. د کوکنارو د کښت د خرابولو لمسون د يوی ستراتژی په توګه هم، د کليوالو کرکه له دولت او د هغه د نړيوالو شريکانو څخه زياتوی. په کليو او محلي سيمو کی د پريمانه مختلفو امنيتی قوتونو شتون چې د افغان او نړيوالو نظامی قوتونو د کله کله سست او بی بنسټه نظارت لاندی کارکوی، لږ منسجم او همغږی برېښې. په ځينې سيمولکه کندهار او هلمند کی افغانی محلي پوليس (ALP) د مخدره توکو پرضد تيری کوونکی او تعرضی هڅی کوی ترڅو خپله تنخواه او ملاتړکوونکی له لاسه ورنه کړی. د دغو ولايتونو په نورو سيموکې او همدا ډول په بلخ کی، بزګران د محلي پوليسو (ALP) غړی او ان تر دی چې افغانی سرحدی پوليس ملامتوی چې يا د کوکنارو له کرکيلی څخه ګټه اخلی او يايی په خپله په کرلوکی بوخت دی.

کله چې د ناټو قوتونو ډېره برخه هیواد پرېږدي او د بهرنیو مالي مرستو د کمیدلو اندیښنې زیاتې شي، دا خطر هم شته چې د دغو امنیتي قوتونو ډېره برخه د تریاکو کرل او سوداګرې د ملاتړ د لاس ته راوړلو او د مخالفینو پرضد د خپل نظامي موقف د غښتلیتوب او قوت یوه لار وګڼي. په یوه زیاتیدونکي د وړاند لید نه وړ مالي محیط په چاپېریال کې، مسلح وسله وال ګروپونه چې کولای شي د لوړ ارزښت لرونکو توکو اجاره کنټرول او د مخدره توکوله تولید او سوداګرې څخه ګټه لاس ته راوړي، مخدره مواد به ډېر اهمیت پیدا کړي.

د افغانستان پر اقتصادي، سیاسي او امنیتي کړنلارې باندې د مخدره توکو بالقوه خرابوونکي اغیزې ته په پاملرنې سره، د نړیوالې ټولنې او حکومت په مقابل کې اصلي پوښتنه دا نه ده چې له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته به د مخدره توکو په ستونزه کې دخیل وي که څنګه؟ اصلي خبره داده چې نوموړې مراجع به په څه ډول او څرنګه په دغې موضوع کې دخالت ولرې. لکه چې لیدل کیږي، د غربي مرسته کوونکو له خوا یو ډول عمدي تنګنظرې د مخدره توکو د محدودولو له هڅو سره شتون لري چې د پالیسي په حدودوکې سیاسي او انکشافي هڅو ته په افغانستان کې زیان رسوي.

د انتقال ټول چاپیریال، د کوکنارو د تولید د قطع کولو لپاره یو نیمه – مطلوب محیط رامینځ ته کوي. د مرستو لړوالی، پخ او ورو اقتصادي انکشاف، نامطمئنه او کمزوری امنیتي تګ لاره، او خپریدونکي کلیوال فقر، دا ټول بنسټیز مشکلات دي چې ټولنه به ورسره مخامخ وي. د حکومت د مامورینو له خوا د مخدره توکو په تولید کې لاس لرل او پرهغوی باندې په مخدره توکو پورې تړلې فساد اوتومتونه ، د غربي هیوادونو په ملتونو باندې د مالیه ورکوونکو په توګه، په داسې حال کې چې پخپل هیواد کې له مالي بحران سره مواجه دي او افغانستان ته ډېرې سترې مرستې برابروي، بده اغیزه کوي او نوموړې مرستې تر پوښتنې لاندې راولي . بایدوویل شي چې پرته له مشخصو اقداماتو، حتی بریالې انکشافي هڅې چې موخه یې د کرنې پراختیا او د لارو او بنسټیزو جوړ ښتونو ښه والی دی، د مخدره توکو له تولید او سوداګرې سره مرسته کوي.

د پالیسي څرګندونو سره سره، لاهم داسې هڅې شتون لري چې د مخدره موادو پرضد داسې جلا او تجریدي مداخله وجود ولري چې د کوکنارو د کرلو اصلي سببونو ته دحل لار پیدا نشي. دغو هڅو لړ بریالیتوب لاس ته راوړی، او په ځینو مواردو کې یې داسې اجتماعي –اقتصادي حرکتونه او سیاسي پروسې رامینځ ته کړې چې د نفوس ځینې برخې یې ځنګ ته کړي، د دولت جوړښت یې کمزوری ، او په نتیجه کې یې پاڅونونه او بیاتولید را مینځ ته کړې دی. برخلاف، شواهد له افغانستان او نوروځایونو څخه جوتوي چې په کرکیله کې لړوالی په هغو ځایونو کې چې کلیوالې ټولنې کولای شي پراخې انکشافي موخې لاس ته راوړي، صورت مومي. نوموړې موخې نه یوازې په کرنیزو، له کرنې څخه پرته، او غیر کرنیزو عایداتو کې د تنوع راوستلو له لارې، په کورنې اقتصاد کې د خطر له مدیریت څخه ، بلکې همدا ډول ټولنوته د ښو عامه مالونو له تدارک څخه په داسې ډول لاس ته راځي چې په دولت باندې د ټولنیزو اغیزو د تقویه کولو له لارې ترسره شي.

په همدې توګه شواهد دا وړاندیزهم کوي چې کرنه په هغوځایونوکې بدلون مومي، ځان برابروي او ځان تینګوي چې هلته د ودې نور امکانات شتون ونه لري. په عمل کې، د مخدره توکو پرضد اغیزمنه پالیسي اړینه ده چې د ډول، ډول سکټوري پرمختیایي مداخلو څخه چې همدا اوس په افغانستان کې عملي کیږي، کار واخلي. دغه موضوع غوښتنه کوي چې هم د سیمې پربنسټ ولاړه اغیزمنه پلان جوړونه، او هم په دې هکله چې ملي او دوه اړخیزې کړنلارې څرنګه پر امنیت، ښه حکومت کولو، او پرمختیایي پایلو باندې اغیزه کوي، شتون ولري، او په همدې توګه دا څرګند وي چې د کوکنارو د اقتصاد او د کوکنارو د کرلو پر عاملینو څه ډول اغیزې کوي. د اخبره د هغو څو اړخیزو حقایقو په پوهیدوکې د لویې پانګه اچونې غوښتنه هم کوي چې سمدستي د افغانستان په کلیو او سیموکې وجود لري، او یا پرځوند او خلکو باندې د مختلفو مداخلو د اغیزو د ارزونې لپاره د نورو مؤثرو لارو د انکشاف ایجاب کوي. تر ټولو مهم ضرورت دادی چې په افغانستان کې ټولې راتلونکې ارزونې او پلانونه باید د دې هیواد د پراختیاموندونکې مخدره توکو اقتصاد په چوکاټ کې، سرته ورسیږي. په دې موضوع نه پوهیدل چې دغه را پیداکیدونکې حقیقت څنګه د انتقال څخه راوروسته پر پلانونو او د هیواد په اوږدمهاله انکشاف او سیاسي تګ کړښه باندې اغیزه کوي، یوه لویه سادګي او بې غورې ده.

## ۱. په یوڅرګند حقیقت سترګې پټول

داسې برېښي چې پالیسي جوړونکو په افغانستان کې د مخدره توکو د تولید او سوداګرۍ په هکله د سوچ کولو مینه له لاسه ورکړې ده. په داسې حال کې چې خبره د افغانستان په هکله پخوانیو نړیوالو کنفرانسونو کې، چه په هغو کې لومړیتوبونوته پاملرنه نه ده شوې او مسایل د پیرودلو دلیست[۱] په توګه طرحه شوې خو د هغو پرځای ډېرلږ بدیلونه رامنځ ته شوي دي، نویو اعلامیو له ۲۰۱۴ کال وروسته افغانستان کې د مخدره توکو احتمالي زیاتوالی، یا هغو اغیزو په هکله چه مخدره توکي یې د هیواد په سیاسي اقتصاد لري، هیڅ یادونه نه ده کړې. په حقیقت کې، د غربي هیوادونو په پلازمینو کې له د مخدره توکو سره دمبارزې په هکله یو ډول حساسیت پیدا شوی چې لوړپوړې پالیسي جوړونکې هڅه کوي چې د دغې موضوع له یادونې څخه پوره ډډه وکړي.

حتی نړیوال بانک چې د اوږدې مودې لپاره یې د یوفعال ګډون کونکي په توګه له مخدره توکو سره مبارزه په ملي کړنلارو[۲] کې یو مهم ټکی ګاڼه، دغې ستونزې ته پخپلو نویو نشراتوکې او د افغانستان

[۱] "Berlin Declaration" (Berlin: 1 February 2005), para 5, http://mfa.gov.af/Content/files/berlindeclaration.pdf (accessed 8 August 2013); "The Afghanistan Compact" (London: 1 February2006), 4 and 11,http://mfa.gov.af/Content/files/Afghanistan%20 Compact.pdf (accessed 8 August 2013); "Declaration of the International Conference in Support of Afghanistan" (Paris: 12June 2008), p. 3, http://mfa.gov.af/Content/files/enghlish. pdf (accessed 8 August 2013); "Afghanistan: The London Conference" (London: 28 January 2010), para 27, http://mfa. gov.af/Content/files/LONDON%20 CONFERENCE.pdf (accessed 8 August 2013); "Kabul Conference Communiqué" (Kabul: 20 July2010), para 26, http://mfa.gov.af/Content/Media/Documents/FINALKabulConferenceCommunique2782011123830501553325325. pdf (accessed 8 August 2013); "The International Conference in Bonn" (Bonn: 5 December 2011), para 15, http://mfa.gov.af/Content/ files/Second%20Bonn%20Conference%202011%20 Communique. pdf (accessed 8 August 2013); "Chicago Summit Declaration on Afghanistan" (Chicago: 21 May 2012), para 21, http://www.nato. int/cps/en/natolive/official_texts_87595. htm (accessed 8 August2013); "The Tokyo Declaration Partnership for Self-Reliance in Afghanistan From Transition to Transformation" (Tokyo: 9 July 2012), para 6, http://mfa.gov. af/en/news/11196 (accessed 8 August 2013).

[۲] Between 2004 and 2008, the World Bank commissioned a number of pieces of work integrating the drugs issue into both its analysis and programming. This included efforts to "mainstream" drugs into a number of National Priority Programmes. Its work on integrating drugs into development analysis and planning in Afghanistan culminated in a report it published with the UK Department for International Development. See "Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives to Reduce Opium Production" (Kabul: World Bank/DFID, 2008).

د لوی اقتصاد په ارزونو کې ډیره لږ پاملرنه کړی ده[3]. نړیوال بانک د انتقال وروسته افغانستان په څیړنه کې مخدره توکی یوازی د یوې د تیریدلو په حال کی پدیدی په توګه ارزولی دی. که څه هم نړیوال بانک ادعا کوی چې د "انتقال په دوره کی به مخدره توکي په لنډمهاله توګه زیاتوالی ومومی"[4] خو دهغې لپاره یی ملاتړی شواهد نه دی وړاندی کړی چی ولی به دغه ډیریدنه یوازی لنډ مهاله وی او څنګه به ددغه تمایل مخه ونیول شی[5].

پوره څرګنده نه ده چې ولی د مخدره توکو موضوع له بحث او آجندا څخه ایستل شوی ده. ښایی هرڅوک له نورو لومړیتوبونو سره، چې په طبیعی توګه د موسسو په اصولو او کړنلارو کی ډیر روښانه دی، بوخت او مشغول وی. داسی ښکاری چې د نورو اندیښنو لیست لکه: د افغانستان د ملی امنیت قوتونه، د ۲۰۱۴ کال د اپریل د میاشتی د جمهوری ریاست د ټولټاکنوبریالیتوب، د راتلونکو مرستو جریان، او د مرستو د لږی باالقوه مکانیزمونه چې په هغوکی سیمه ایز کنترول ډیر محدود دی، د ډیر او ریښتنی اهمیت وړ وګڼل شی. کله، کله داسی معلولومیږی چی د انتقال لپاره د واقعی "هر اړخیزو او مهمو" ستونزولکه مخدره توکولپاره چې د نوروهراړخیزو ستونزو لامل هم ګرځی، د بحث او خبرو اترو وخت نشته.

آیا د مخدره توګو ستونزه یوه پیچلی او حل نه کیدونکی مساله ده؟ د لید وړ هڅو او مالی ملاتړ سره سره، اوس هم افغانستان د نړی ۹۰ په سلوکی مخدره توکی تولیدوی او دغه ستونزه به په چټکی سره بدلون ونه مومی. تل داسی اټکل کیده چې پرمختیا او انکشاف وخت غواړی او ښایی دی موخی ته رسیدل له یوه نسل څخه ډیر وخت په کار ولری[6] . خو له دی سره سره، په داسی یو سیاسی چاپیریال کې چې ټوله پاملرنه یو بریالی انتقال ته د مرکزی ټکی په توګه جلب شوی وی اود بریالیو دخالتونو پای په نښه کوی، ښایی داسی درک شی چې د مخدره توکو په کرکیله کی ډیر لږ ښه خبرونه شتون ولری. همدا ډول په رسنیوکې ډیرلږکسان پیدا کیږی چی له مخدره توکو سره کله چې د کرکیلی کچه یی لږ شی – لکه چې د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ کال ترمینځ همداسی وشو – علاقه پیدا کړی. خو کله چې د مخدره توکو کښت لوړشی ( اویایی د زیاتوالی وړاندلید وشی) نو ګنی مقالی خپریږی چې د غربی هیوادونو په سړکونو او کوڅوکی د هیروینو د " سیلاب" او په افغانستان کی د جنایتکارانو او شورشی ګروپونو د عایداتو د لوړوالی په هکله خبری کوی[7].

په حقیقت کی، که چیری راتلو لو شوو احصاییو او ځانګړو جغرافیایی ځایونو ته وکتل شی، نو د مثال په توګه په هغو کورنیو او ټولنوکی چې د مخدره موادو تولید یی د ولایتونو مرکز او سیمه ایزو اقتصادی مرکزونه ته نږدی بس کړی وی د ژوند د کیفیت د ښه والی په هکله ډیری مثبتی خبری خپریږی. خو دا خبری هغه کیسی او نکلونه نه دی چې سرلیکونه وګڼل شی، نو ځکه په لوړه کچه پالیسیو او ملی پریکړو ډیرلږ اغیزه لری.

د هغو کسانو لپاره چې له پرمختیایی ټولنو سره اړیکی لری، په دی موضوع پوهیدل چې د مخدره موادو د کر کیلی په اړه باید کوم اقدامات وشی، ډیر ستونزمن کار ښکاری ځکه چې د کابل او نور هیواد تر مینځ د اړیکو د نه درلودلو واټن ډیر پراخ او زیاتدیدونکی دی. د افغانستان په لیری او کلیوالو سیموکی د ستونزوحل – د کوکنارو د کرکیلی په شمول – په څو اړخیزو حقایقو د پوهیدلو آیجاب کوی چې د افغانستان په محلی ځایونوکی شتون لری. په نښتو ټولنیزو – اقتصادی او سیاسی جریانونو پوهیدل، او د قصدی او غیر قصدی پایلو لیدل او معاینه کول چې د هیواد په مختلفو جغرافیایی سیموکی د مختلفو مداخلو نتیجه ده، ستونزمن کاردی.

په اوسنی محیط اوفضا کی ،پرته د پروژو له نظارت څخه، د کلیوال نفوس پرژوند او معیشت د پرمختیایی فعالیتونو د اغیزو د کچی د معلومولو لپاره ډیره لږ پانګه اچونه شوی ده. ددی پرځای، د مخدره توکو پرضد د مبارزی په هکله کیسی او تشریحات یواړخیز اقدامات دی، لکه د مخدره توکو او جرمونو په هکله دملګرو ملتونو ددفتر(UNODC) له خوا د هکتار او متریک تن په اړه راټوله شوی احصاییه، یا په ولایتی او ولسوالی کچی د سروی معلومات ( له ټولو یو اړخیزه قضاوتونو سره چې په داسی سرویګانو کې شتون لری[8]). دغه د پوره معلوماتونشتوالی یوازی د پالیسی جوړونکو اړیکی له هغو محلی سیمو سره چې مخدره توکی په هغو کی متمرکز دی، محدودوی.

ښایی په افغانستان کې د مخدره توکو ستونزه ددې لپاره هم بی ارزښته شوی وی چی په اصل کې دا یوه " پلیته او ناوړه ستونزه " ګڼل کیږی، او د داسی نغښتو او له یوبل سره تړلوشبکو نتیجه ده چې د وخت له تیریدو سره مینځ ته راغلی او دهغی د " حل"[9] لپاره باید له نوو او نا اټکله لارو څخه ګټه واخیستل شی. په دی توګه په خپرسره د دغی ستونزی د عواملو څیړل، په ساده ډول د ستونزی په هغو اړخونو سترګی پټول چې ډیر پیچلی او نغښتی ښکاری، او یا د بلی موسسی په اصولو او بودجی پوری د هغی تړل به د نوموړی ستونزی ایل

[3] This may reflect in part the declining share of opium in Afghanistan's GDP in recent years, which has fallen from an estimate of 13 percent in 2007 to four percent in 2012 due to the growth in the Afghan economy and a rapid expansion in external assistance over this period. See UNODC, "Afghanistan Opium Survey 2007" (Kabul: UNODC, 2007), 7; UNODC, "Afghanistan Opium Survey" (Kabul: UNODC, 2012), 13.

[4] In this report the drugs issue is mentioned only as a "factoid" in a box on page 51, while at the same time acknowledging that "the illicit production of opium still overshadows agriculture, accounting for nearly half of overall agricultural production but on a much smaller portion of agricultural land." Drugs are not mentioned in sections on rural livelihoods or in the conclusions and recommendations, and are given only a paragraph (apart from the aforementioned box) in the chapter on the economic impacts of

[5] This point is repeated in World Bank "April 2013 Afghanistan Economic Update" (Kabul: World Bank, 2013), 7.

[6] As previous counter-narcotics experiences in Pakistan and Thailand would seem to suggest.

[7] Damian Gayle, (2013) 'Afghan heroin production soars as foreign troops pull out, says UN', Mail Online, 15 April 2013.

[8] For example, the Helmand Monitoring and Evaluation Programme (HMEP), which is used to assess performance in Helmand, reports that only 3-5 percent of households answered yes to the questions: "In the past 12 months, did your household make any revenues from each of the following?...Sale of opium/ poppy." See "HMEP Annual Review," February 2013, 14-2 and14-4. Even in the more secure Food Zone in which polling might be possible, opium poppy cultivation rose, occupying as much as 62.5 percent of the agricultural land in the part of Nahr-i Seraj contained within the Food Zone (US government data analysed by Alcis). Given the trends in production and prices reported by UNODC and the US government, it is hard to believe that opium poppy cultivation was a source of income for only the five percent of the population that HMEP reports. Beyond the inevitable implications for social desirability bias inherent in such direct lines of enquiry, there are also many parts of Helmand, particularly those areas where the Taliban dominate (including north of the Boghra Canal) where opium poppy is increasingly concentrated. Again, it is difficult to believe that such topics could be pursued at all without threats to the lives of enumerators.

[9] Jeff Conklin, "Wicked Problems and Social Complexity" (CogNexus Institute, 2008), http://www.cs.uml.edu/radical-design/ uploads/Main/WickedProblems.pdf (accessed 8 August 2013).

کولو ته ډېره لږ ګټه وکړي. داموضوع ځکه له ستونزو ډکه ده چې د حکومت د مختلفو ادارو یا مرسته کوونکو موسسو ترمینځ همغږي په خپل ذات کې ستونزمن کار ده. افغاني یا غربي بیروکراسي هغه مسئلې نه خوښوي چې پرهغو بشپړ کنترول ونه لري، له اړوندي بودجې سره یې موافقه ونه لري، او د نتایجو لپاره یې کریدت د هغو په برخه نشي.

په افغانستان کې د بیارغونې په هکله د متحده ایالاتو د خاص مفتش وروستني دری میاشتنی رپورټ[۱۰](SIGAR) څرګندوي چې اوس هم ډېر فعالین د مخدره توکو پرضد مبارزې ته دیوې مجزا ستونزې په توګه ګوري او دغه پدیده د یوې پراخې او لیدوړ مسئلې په توګه نه څېړي چې پرمختیا، امنیت او ښه حکومت کول یې نتیجه ده. د نوموړي رپیوټ پراساس د امریکې د حکومت ۱۲. ۸۲ بلیون ډالره مالي سرچینې – او د ۷۶. ۸۸ ملیون ډالرو څخه ۶. ۹۲ فیصده مالي منابع چې د امریکې له خوا افغانستان ته د ۲۰۱۲ کال تر دسمبر پورې اختصاص شوي وې– په امنیت، ښه حکومت کولو او انکشاف باندې مصرف شوي دي. له د غو پیسو څخه یوازې ۱۵. ۶ بیلونه ډالر په مستقیمه توګه د مخدره توکو پرضد مبارزې ته جلا شوي وو[۱۱]. دغه شمیرې هغه قضاوت برملا کوي چې د دغې ستونزې د حل کولو په اوسنۍ لارکې شتون لري. په داسې حال کې چې د مخدره توکوپرضد د مبارزې ټولنه د تریاکو د تولید د لږوالي په لارکې د ناکامۍ مسئوله ګڼل کیږي، خو دغې موضوع د امنیت او انکشاف په سکتورونو باندې – چې دواړه په نه جلاکیدونکې توګه د داسې شرایطو مینځ ته راوړونکي دي چې د کرکیلې د لږوالي سبب ګرځي– ډېر لږ اغیزه درلودلې ده.

بله ستونزه داده چې یو څو غربي پالیسي جوړونکي عقیده لري چې له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته به افغان حکومت د مخدره توکو ستونزې ته لومړیتوب ورکړي. د دغې عقیدې پربنسټ به هره نوې اداره کله چې د خپل حاکمیت پوره کنترول په لاس کې واخلي له خورا ډېرو ستونزو سره مخامخ شي. ددې موضوع نتیجه داده چې نوې حکومت به د مخدره توکو پرضد داسې پالیسي تعقیب نه کړي چې د کوکنارو د کښت د تخریب په واسطه کلیوال ولس له خپل ځان سره دښمن کړي. په همدې ډول به نوې حکومت ونه غواړي هغه کسان چې د مخدره توکو په سوداګرۍ کې بوخت دي، په تیره بیا هغه کسان اوګروپونه چې دولتي چارواکو ته نږدې دي ترتعقیب لاندې ونیسي. د دې پرځای کیدای شي چې ملي او ولایتي حکومتي چارواکي له سیمه ایزو وسله والو ګروپونو سره یو ډول موافقه وکړي چې له دولت سره د ښو اړیکو په مقابل کې، د مخدره موادو له تجارت څخه اجاره ترلاسه کړي.

په هرصورت د مخدره توکو پرضد د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د حکومت د تعهداتو په هکله شک او تردید د مرسته کوونکو هیوادونو لپاره د موضوع د اهمیت د کمیدلو لپاره کمزوري دلیل شمیرل کیږي. د مثال په توګه د توکیو د دوه اړخیزه حساب ورکولو په چوکاټ کې د مخدره توکو اړوندو شاخصونو نه شتون ته ځیر شی. په عین حال کې داسې معلومیږي چې له ۲۰۱۴ کال وروسته حکومت به علاقه ونه لري چې نورو ستونزو لکه د بشر حقونو، د ښځو موقف ، دموکراسي، او اداري فساد ته پاملرنه وکړي. خو له دې سره سره مرسته کوونکو هیوادو لږترلږه تر اوسه پورې د دغو ستونزو له طرحه کولو څخه ډډه نه ده کړې.

هغه کسان چې اوس هم له مخدره توکوسره د مبارزې په هکله تودې خبرې کوي، د دغې ستونزې په حل کې بریالي نه دي. او دا ځکه چې په دې باره کې چې په دې اړه د چا ګټې او انګیزې ترسره کیږي، پوښتني شته دي. په ځینو مواردوکې داسې ښکاري چې د مخدره توکو پرضد د مبارزې ملاتړي په عمده توګه علاقه لري چې د مخدره توکو مصرف په هیواد کې لږ کړي، که څه هم په عرضه کولوکې لږوالي په محل کې د نوموړو توکوپه نشتوالي او د هغو په قیمتونو باندې ډېر لږ اغیزه لري [۱۲] په عین حال کې داسې خبرې هم شته چې نورکسان یې د " خشخاشو په سیمه" او د " مخدره توکو په دولت" کې د ډار او ویرې اچولو لپاره هڅه ګڼي. دغه هڅه د عمل د اجرا لپاره داسې لار شمیرل کیږي چې پرته له یوې روښانه لارښوونې څخه امکان لري په لویه کچې د کوکنارو د کرکیلې د له مینځه وړلو لپاره ورڅخه کار واخیستل شي.

په افغانستان کې انکشافي موسسې ښا یې داسې انتباه واخلي چې د مخدره توکو پرضد ټولنې غواړي دا دنده په یوازیتوب سره سرته ورسوي. د دوی درک او پوهه داسې ده چې د مخدره توکو پرضد فعالین پخپلو " نوی لارو" کې " بند " او " محدود " شوي دي، بې له دې چې وکړای شي یا وغواړي وګوري چې په نورو فعالیتونو، په تیره بیا پراوږ د مهاله انکشافي موخو کې، د دوی تداخل څه ډول اغیزه کوي. په عین حال کې شک وجود لري چې د مخدره توکو د روښانه طبیعت اوخصلت سره سره، په دې برخه کې د اجرااتو د حد ټاکنه په هرکال کې د کوکنارو د کښت د له مینځه وړلو د اندازې پر بنسټ ټاکل کیږي. له همدې کبله د مخدره توکو پرضد هڅو ته د سیاسي لومړیتوب ورکول په پخوا کې تل بریالي نه وو.

کره کتونکو هم د مخدره توکو پرضد د عمده موسسو انکشافي موخوته د انتقاد په سترګو کتلې دي. UNODC د مخدره توکو پرضد د ملي لومړیتوب د کړنلارې (NPP)[۱۳] لپاره غږ کړی دی، په داسې حال کې چې د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت (MCN) خپلې هڅې د زراعتي توکو په برابرولو لکه د بذرې غنمو او کمیاوي کود ویشلو ته، د " غذایي زون " په توګه، متمرکزې کړې دي. په انکشافي ټولنوکې ډېروکسانو ته دواړه استراتژي ګانې مخدره توکو ته دیوې مهمې ستونزې په توګه کتلوسره تناقض لري او دا حقیقت له پامه غورځوي چې د مخدره توکودایمي کموالی د ځانګړي سکتور د تداخل په ذریعه د ځانګړې وزارت یا ادارې له خوا سرته رسیږي، ممکن نه دی.

[۱۰] Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction, “18th Quarterly Report to the United States Congress” (Arlington, VA: SIGAR, 2012), 89-93.

[۱۱] The SIGAR Report cites appropriations of $51.15 billion for security; $22.39 billion for governance and development; $6.15 billion for counter-narcotics; $2.4 billion for humanitarian aid; and $6.64 billion for operations and oversight (page 55). The appropriations for counter-narcotics include funds for eradication, the MCN’s Good Performers Initiative, Counter Narcotics Public Information and counter-narcotics reports, as well as money for the Counter Narcotics Police of Afghanistan and interdiction operations.

[۱۲] UK Prime Minister’s Strategy Unit, “Strategy Unit Drugs Report: Phase One—Understanding the Issues” (London: Prime Minister’s Strategy Unit, 2003), http://www.countthecosts. org/sites/default/files/Strategy%20Unit%20drugs%20report.pdf (accessed 8 August 2013)..

[۱۳] See MCN, “National Alternative Livelihoods Policy” (Kabul: MCN, 2012), 34. Emma Graham Harrison, “Afghanistan: high expectations of record opium crop,” The Guardian, 15 April 2013.

اوس اوس، یوه عمده او اساسی ستونزه د مخدره توکو پرضد دهغو موسسو ترمینځ د ګډو سیالی ده چې په دی هکله سوچ کوی چې له ۲۰۱۴ کال وروسته به څنګه ددغی ستونزی په هکله لومړیتوب ټاکل کیږی. د مخدره توکو پرضد ټولنوکی داسی کسان شته چې دا ستونزه لمړی او مرکزی ګڼی، او په سیاسی او انکشافی اړخ کې داسی کسان هم لیدل کیږی چې غواړی دغه موضوع په ټولیزه توګه له یاده وباسی. هغه څه چې په دی بحث کې له پامه غورځیدلی ، یوه واقعی ارزونه ده چې د مخدره توکو ستونزه به په راتلونکو کلونو کې په افغانستان کې څه رول ولوبوی او څنګه به په پیچلو ټولنیزو – اقتصادی او سیاسی جریانونو باندی چې همدا اوس یې ددغه هیواد سیاسی اقتصاد ته شکل ورکړی دی، اغیزه وکړی. او څنګه به د پالیسی پرهغو لومړیتوبونو تاثیرواچوی چې همدا اوس په کابل او د نړی په مختلفو پلازمینو کې د نظامی، سیاسی او انکشافی موسسو له خوا جوړ شوی دی.

# ۲. د انتقال جریان: پریږدی چې په سلګونو ګلان وغوړیږی

دا یو حقیقت دی چې حکومت او نړیواله ټولنه به په راتلونکی کې له دغو لاندنیو ستونزو سره مخامخ وی: د تریاکو د تولید کچه نه یوازی د لوړوالی په حال کې ده بلکې په راتلونکو کلونو کې به لا چټکه او زیاته هم شی. UNODC وړاندلید کړی چې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې به د کوکنارو تولید ۱۸ په سلوکی وده و مومی[۱۴]. د کوکنارو د کښت دغه لوړوالی به سربیره پرهغو ۷ په سلو کی زیاتوالی وی چې په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونوکی رامینځ ته شوی دی. نوموړی شمیری او ارقام په مجموعی توګه د کوکنارو د کرکیلی تخمینی زیاتوالی په ۲۰۱۲ کال کې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال د ۱۲۳,۰۰۰ هکتاره ځمکی د کرلو په پرتله، ۱۵۴,۰۰۰ هکتاره ګڼی. د امریکی د حکومت د تخمین پر بنسټ به د کوکنارو کرکیله د ۲۰۱۱ کال له (۱۱۵,۰۰۰ ) هکتاروڅخه، په ۲۰۱۲ کال کې (۱۸۰,۰۰۰) هکتارو ته لوړه شی.

له ساحو څخه شواهد څرګندوی چې د کوکنارو کښت به په ۲۰۱۳ کال کی لازیات شی او هیڅ شک نشته چې په ورسته کلونو کې به د مخدره توکو غیر قانونی کښت او سوداګری د افغانستان په سیاسی اقتصاد کې زیاتیدونکی ستر رول ولوبوی. په تیره بیا چې داسی نښی شته دی چې د ننګرهار، بلخ او هلمند په ولایتونوکې د مخدره توکو د کنترول نمونی او طرحی له ناکامی او یا له پوره کمزورتیا سره مخامخ دی. د اندیښنی وړ ده چې زیاتیدونکی شواهد څرګندوی چې په هغو ولایتونو کی چې یووخت له " کوکنارو څخه خلاص" بلل کیدل، شاته تګ ترسترګوکیږی او د UNODC د اټکل پربنسټ به په ۲۰۱۳ کال کی یوازی ۱۴ ولایتونه له " کوکنارو خلاص" وی (چې په ۲۰۱۲ کال کې د ۱۷ ولایتونو په پرتله شاته تګ ګڼل کیږی). داسی برېښی چې په بلخ، فاریاب او تخار کی به په هرولایت کی ۱۰۰ هکتاره ځمکه د کوکنارو کښت لاندی راشی[۱۵]. په دی هکله د هغو موسسو چې د احصاییې او شمیرنوله را ټولولو سره علاقه لری، لویه اندیښنه داده چې په تکنولوژۍ کې د اصلاحاتو او ښه والی په نتیجه کې به په پخوانیو دښتوکی د کرکیلی امکانات په دی مورد کې، د یو ډراماتیک او لید وړ ډیروالی لامل شی. داسی برېښی چې د نوموړو تکنولوژیکو نوښتونو د پراخوالی سره څنګ په څنګ به لا ډیره ځمکه د کوکنارو ترکرکیلی لاندی راشی چې نتیجه به یې دا وی چې افغانستان به هومره ډیر مخدره توکی تولید کړی چې تر اوسه یې په هیڅ وخت کې تولید کړی نه دی. د دغې موضوع وقوع (واقع کیدل) په تیره بیا په هغه صورت کې ډیره عملی برېښی چې په ځینی سیموکې د زراعتی آفاتو او نورو عواملو له کبله دکرنیزو حاصلاتو لړوالی ادامه پیدا کړی.

[۱۴] UNODC/MCN, “Afghanistan Opium Survey 2012: Summary Findings” (Kabul: UNODC/MCN, 2012).

[۱۵] UNODC/MCN, “Afghanistan Opium Risk Assessment 2013” (Kabul: UNODC/MCN, 2013), 2.

## په ننګرهار، بلخ او هلمند کې ناکامی نمونې

په تیروکلونوکې د حکومت او نړیوالی ټولنی غړو د کوکنارو د کښت په له مینځه وړلوکې د ننګرهار او د بلخ والیانو هڅې ستایلی دی. په تیره بیا چې د بلخ ولایت، ددې ولایت د والی عطا محمد نور تر اداری لاندی، له ۲۰۰۷ کال را هیسی هر کال له " کوکنارو خلاص " ولایت پیژندل شوی دی. په ننګرهار کی د والی ګل آغا شیرزی هڅې هم چې په ۲۰۰۷ کال کې یې په نوموړی ولایت کې یې د نږدی ۱۸,۷۳۹ هکتاره کوکنارو کښت په ۲۰۰۸ کال کې صفرته راکوزکړ، او تر ۲۰۱۰ کال پوری یې دغه کرکیله په ډیره ټیټه کچه کې وساتله، ستایل شوی دی. په دی وروستیو کلونو کی په هلمند کی " غذایی زون " چې د والی ګلاب منګل تر اداری لاندی د کرنیزو تولیدی عواملو پنډه کی ویشل شوی ـــ د کوکنارو د کښت د مینځه وړلوله تهدید سره یوځای – د کانال په دښتو کې د کوکنارو په کښت کې د لید وړ لړوالی را مینځ ته کړی، هم د ستایلو وړ ګڼل شوی دی. له همدی کبله د نوموړی ابتکار تطبیق د بدخشان، فراه، ارزګان او کندهار په ولایتونو کې هم ترغور لاندی نیول شوی دی.

د امنیتی مسئولیتونو د انتقال د وخت د رانږدی کیدلو سره سم، په نمونه ولایتونوکې د نوموړو لاس ته راوړنو تداوم تر پوښتنی لاندی راځی او د پخوانی وضعی د بیاراتللو نښی نښانی په روښانه توګه لیدل کیږی. په هر ولایت کی د کوکنارو د کښت لړول په هغو سیموکې چې د ولایت مرکز ته نږدی دی – چیري چې په تاریخی لحاظ د دولت قوی حضور او د منابعو آسانه ویشل شونی ښکاری– ورځ په ورځ له ستونزو سره مخامخ کیږی. په واقعیت کې ټول کښت هم په ننګرهار او هم په هلمند کی دا پوښتنه رامینځ ته کوی چې نوموړی نمونی به ترکومه دوام وکړی، کله چې د ناټو قوتونه نور په کلیوالو سیموکی حضور ونه لری. حتی په بلخ کې ، چیری چې د ناټو قوتونه د مخدره موادو پرضد فعالیتونو کی د خیل نه وو، دا پوښتنه شتون لری چې په امنیتی مسائلو کې پراخ بدلون به ترکومی کچې د کوکنارو د کرکیلی له زیاتوالی سره مرسته وکړی.

په نوموړو ولایتونو کی د مخدره توکو پرضد د مبارزی نمونی ادعا کوی چې د تریاکو په بندیدلوکې له ټولو بزګرانو سره په ټولو سیمو او ځانګړو ولایتونوکی یوشان چلند کوی. خو له دی سره سره، نوموړی تګلاره د دی ایجاب کوی چې په هغو ځایونو کې هم له تشدد څخه کارواخلی چې د دولت د کنترول تاریخ وجود نه لری او چیری چې کلیوال نفوس د کوکنارو د کښت څخه د لاس اخستنی امکانات او منابع په خپل معیشیت او ژوند کی له ډیرولویو ضررونو پرته ، نه لری. له ټولوبزګرانو سره یو شان چلند خورا مختلفی سیاسی او اقتصادی پایلی رامینځ ته کړی دی. په ځینی سیموکی خلکو د کوکنارو له لړوالی او

د پرمختیا له جریان څخه ملاترکړی، خو په نورو ځایونو کې چیری چې بل بدیل او چاره نشته، د دولت د لږکنترول تاریخ وجود لری، د دولت په جوړښت سترګې پټې شوی او مخالفینو (AGEs) ته د نوو سیمو د اشغال او نیولو فرصتونه مساعد شوی دی.

## ننګرهار: د دولت پرشاتګ[۱۶]

څرګنده ده چې په ننګرهار کی د مخدره توکو د کنترول نمونه له ناکامی سره مخامخ شوی او د کوکنارو کلنی کښت مخ په لوړوالی روان دی. په ۲۰۰۸ کال کې وروسته تر دی چې ننګرهارته " له کوکنارو خلاص" نوم ورکړشو، په ۲۰۰۹ کال کې بیا د کوکنارو کرکیله راوګرځیده، او ۲۹۴ هکتاره ځمکو کی کوکناروکرل شول. په هر حال، د UNODC د اټکل پراساس په نوموړی ولایت کې ۳,۱۵۱ هکتاره ځمکه د کوکنارو تر کښت لاندی راغله او د ۷۹۴ هکتاره کښت د له مینځه وړلو له اعلان سره سره نږدی په ۴،۰۰۰ هکتاره ځمکه کې کوکنارو کرل شو[۱۷]. د متحده ایالاتو په اټکل په ننګرهار کې په ۲۰۱۲ کال کې ۴،۴۰۰ هکتاره ځمکه د کوکنارو په کښت ولړل شوه ( پرته له هغی کرکیلی چې په پسرلي کې تخریب شوی وه).

هغه کسان چې په ننګرهار کې د مخدره توکو کنترول یو بریالی مودل ګڼی، ټینګار کوی چې د کوکنارو د کرکیلی کچه د ۱۹۹۰ کلونو په پرتله (۱۵,۰۰۰ تر ۲۰،۰۰۰ هکتاره) ډیره لږ ده او ادعاکوی چې د مخدره توکو کرکیله په سهیلی ولسوالیو کې چې له پاکستان سره ګډه پوله لری، تمرکز پیدا کړی ده. په هر صورت په داسی حال کې چې په پخوا کې د مخدره توکو کرکیله له جغرافیایی لحاظه محدوده پاتی شوی وه، خو په ۲۰۱۳ کال کې یی نه یوازی د سپین غر لمنوته پراختیا وموندله بلکې هغو درو ته هم پراخه شوه چې جلال آباد ته ډیر نږدی موقعیت لری.

په حقیقت کې، سیمه ایزی نوی څیړنی څرګندوی چې په ۲۰۱۲/ ۲۰۱۳ کلونو کې د خوګیاڼیو او اچین لوړی دری له کوکنارو څخه ډکې شویدی. برعکس، هلته یوازی د شوتلو ډیر لږ کښتونه د څارویو د تغذیی لپاره شته، او دغنمو کښت اصلاْ وجود نه درلود( لومړی شکل دی وکتل شی). د کهی او قرغی ولسوالیو مرکز ته نږدی کلیوکې د کوکنارو کرکیله لږ شوی ده، خو د کرکیلی وړ نږدی نیمایی ځمکی اوس هم د کوکنارو ترکښت لاندی دی، او ان تر دې چې د نوموړو ولسوالیو په ښکته برخوکې ۲۰ تر ۳۰ په سلوکې د کرنی وړ ځمکو کی کوکنار کرل کیږی. داسی نښی نښانی شته چې همدا اوس د خوګیانیو به ګاونډی فتح آباد او په سرخرود کی د تورغره ترڅنګ سیمو، او همدا

**لومړی شکل: په ۲۰۱۳ کال کی د ننګرهار په براچین کی د کوکنارو کښت**



ډول په سیاه چوب کې چې په بر شینوارو کې موقعیت لری، کوچنی سیمی د کوکنارو تر کښت لاندی دی. د کوکنارو کرکیله په چپرهارکی د نوموړی ولسوالی له عمده سړک سره خورا نږدی هم ډیره زیاته شوی ده. شواهد څرګندوی چې د کوکنارو کښت په چټکی سره په دغو ټولو سیموکی بیا پیل شوی دی. په دی خبره باور چې د کوکنارو کښت به پرخپل ځای پاتی وی، له ۲۰۰۷ کال څخه راهیسی د لومړی ځل لپاره سلم (هغه سیستم چې دهغه پربنسټ د راتلونکو حاصلاتو لپاره مخکی له مخکی پیسی ورکول کیږی) بیا راژوندی کړی دی. په شډل بازار کې یو ځل بیا د تریاکو آزادو خرڅولو او رانیولو رواج موندلی دی[۱۸].

داسی ډیر لږ قراین وجود لری چې حکومت د ننګرهار په برو ولسوالیو کې د کوکنارو د کرکیلی د له مینځه وړلو قدرت لری. په حقیقت کی، د بر اچین خلکو په ۲۰۱۳ کال کې په څرګند ډول هغه ځمکی چې په هغو کې کوکنار کرل کیږی پراخی کړی او د کوکنارو د له مینځه وړلو کمپاین څخه هیڅ ویره نه لري. حتی د اچین په کوزو سیموکی چې د شینوار ولسوالی په ګاونډ کی پرتې دي، د رسمی ریپوټونو پرخلاف د کوکنارو ډیر لږ کښتونه تخریب شوی دی. په نورو ولسوالیو لکه په کوټ کې په رسمی راپورونو کې مبالغه شوی ده. سربیره پردی داسی نښی هم شته چې د پریکړو پراساس ځینو بزګرانو خپل ځینی کرل شوی کوکنار مخکی له مخکی خرڅ کړي او د ګاونډیو کلیو له خوا پیسی ورکړل شوی دی. د ولسوالی یو مامور وایی: " زه دلږ کوکنارو په تخریب او دهغو په زیات ښودلو کې مهارت لرم ". په داسی حال کې چې ځینی رپوټونه د کوکنارو د نه خرابولو په بدل کې ښکاره اداري فساد په ګوته کوي، په ډیرو مواردو کې محلی مامورین دسیمی له خلکو څخه غواړی چې په سیمه کې د کوکنارو د کښت په له مینځه وړلوکی د دولت د کمزورتیا په هکله ولایت، مرکزی ادارو او نړیوالی ټولنی ته چې د کوکنارو د کرکیلی کچه څاری، خبری و نه کړی. (دوهم شکل وګوری)

د خوګیاڼیو ولسوالی د هغو متضادو او دوه ګونو موخو ډیر ښه مثال دی چې دولت د دغه زیاتیدونکی جریان د مخنیوی لپاره عملی کړی دی. دلته حکومت نه غوښتل هغه مړینه او زخمی کیدل تجربه کړی

[۱۶] This section is based on fieldwork undertaken in April 2013, as well as previous rounds of fieldwork in Nangarhar. See David Mansfield, "Between a rock and a hard place: Counter-narcotics efforts and their effects in the 2011-12 growing season" (Kabul: AREU, 2011); David Mansfield, "All Bets are off! Prospects for (B)reaching agreements and drug control in Helmand and Nangarhar in the run up to transition" (Kabul: AREU, 2013).

[۱۷] UNODC/MCN 2012, 10. The 2011 Survey also points out: "It is worth noting that while every effort is made to ensure that all areas in which poppy is grown are covered by satellite imagery, it is only in the provinces of Badghis, Dai Kundi, Farah, Helmand, Kandahar, Nimroz, Uruzgan and Zabul where imagery collection is based on a representative sample and confidence intervals are calculated for the level of cultivation." In the 26 'target' provinces, including Nangarhar, Balkh and Badakhshan, "the approach assumes that all areas were identified and covered by imagery," and therefore "area estimates should be considered as a minimum estimate." See UNODC/MCN, "Afghanistan Opium Survey 2011" (Kabul: UNODC/MCN, 2011), 92

[۱۸] Although it is interesting to note that, as in the 1990s, the Taliban have adopted a more punitive position on cannabis; trade in hashish is prohibited and has to be conducted by farmers "in secret" (although cultivation is plainly visible).

چې د ۲۰۱۲ کال د اپریل په میاشت کې د کوکنارو د کښت د ویجاړولو په جریان کې واقع شو او په هغه کې ۴۵ کسان مړه او ۳۶ کسان زخمیان شول. ترټولو د اهمیت وړ خبره داده چې د افغان ملی امنیتی قوتونو نه غوښتل چې هغه لاس ته راوړنی له لاسه ورکړی چې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳کال د شورش پرضد دری (۳) عملیاتو کې یی لاس ته راوړی وی. په حقیقت کې، د ډیرو کلیوالو ټولنو په یاد دی چې د افغان ملی اردو قوماندان چې د نوموړو عملیاتو لارښوونه یې کړی وه پخپله د ولسوالی مشرانو ته اعلان وکړ چې سږکال به ددوی د کوکنارو کښت ویجاړ نشی.

په دی باره کې د والی شیرزی نوی رفتار هم د هغه کمزورتیا خلکوته معلومه کړه. د کوکنارو د کښت منع کولو لپاره د هغه د ۲۰۰۸/۲۰۰۷ او۲۰۰۸ /۲۰۰۹ کال سفرونوپرخلاف، په ورستیوکی، ولسوالیو ته په تګ کی دهغه د ناتوانی یا نه غوښتلوله کبله، والی د ولسوالیو مامورینوته د کوکنارو د کښت د ویجاړولو په هکله لیکونه واستول. په عمومی توګه داسی بریښی چې والی په جلال آباد کې – چیری چې دی د پخوانیو مجاهدینو نخبګانو له خوا خپل موقف او خپلی سوداګریزی ګټی په خطر کې ګوری، له ډیرو لویو ستونزو سره مخامخ دی چې د ننګرهار د سیمه ایزو او کلیوالو ستونزو په هکله سوچ وکړی. د خوګیانو ولسوال چې د حکومت د کنترول په محدودیت او دکوکنارو د کښت په پراخوالی ښه خبرده، په هره منطقه یا سیمه کې یی د یو مشخص او توافق شوی ویجاړولو په هکله خبری اتری پیل کړی دی. په هرحال، د ټولنو مشرانو دغه وړاندیزونه و نه منل او د ۲۰۱۳ کال د اپریل د میاشتی په دریمه اونی کې د حاصل راټولیدل پیل شول. له ساحی څخه راغلی ریپوټونه وایی چې بزګرانو نه غوښتل حتی د ګاونډیانوله خوا د جبران په مقابل کې "یوازی خارجیانوته د عکاسی لپاره " د خپلو ډیرو کمزورو کښتونو ویجاړیدل ومنی. ډیرو بزګرانو عقیده درلوده چې کوکنارو د کښت ویجاړولو لپاره ولایتی چارواکوته" خارجیانو" ۳۰۰ ملیونه ډالره ورکړی دي چې هغه یی " خپل ځانته ساتلی دی".

په ننګرهار کې د کوکنارو د ویجاوړلو هڅی سږ کال بیا په دې بهانی چې او سنی کښتونه خورا ښه او دداسی غټو کپسولونو لرونکی دي چې په لسیزه کې کله کله واقع کیږی. برسیره پردي، دسپین غر په لمنوکې خلک هغه محصول ته چې د کوکنارو له کښت څخه به لاس ته راشی، ډیر اړ دی. نوموړی سیمی چې ځمکی یی ډیر لږ او نفوس یی خورا زیات دی، له ۲۰۰۷کال را هیسی د کوکنارو کښت نه وو کړی. له ټولو مهمه خبره داده چې د غذایی توکو اوکرنیزو محصولاتو قیمتونه ډیر لوړ شوی، نږیوالی مرستی لږ شوی، او د جلال آباد اقتصاد هم پخوانی رونق نه لری [19].

[19] In April 2013, labourers in Jalalabad reported that although wage labour rates had continued to rise over the last 12 months, increasing from PR 450 PR to PR 500 PR per day (or from $4.40 to $4.90), there were significantly fewer days available and a larger number of prospective workers in the marketplace each day competing for work. They also complained that real wages had fallen due to the rising cost of food items. This is supported by the World Food Programme, which estimated that the daily wage for unskilled work would purchase 35 percent less wheat flour in March 2013 than it did during the same month in 2012. See World Food Programme, "Vulnerability Analysis and Mapping—Afghanistan: Initial market Price Bulletin for the Month of March 2013" (Kabul: WFP, 2013), http://documents. wfp.org/stellent/groups/public/documents/ena/wfp256835. pdf (accessed 8 August 2013).

دوهم شکل: د ۲۰۱۳ کال د اپریل په میاشت کې په معروف چنار، کوز اچین، ننګرهار کې د ویجاړولو کمپاین



په عمومی توګه بزګران عقیده لری چې د کوکنارو کښت په مناسب وخت کې وړکارده او ددي ارزښت لری چې ملاتړ او حمایت یی وشی. حکومت په دی خبره پوهیږی اوله همدی کبله د داسی لارو په لټه کې دی چې وکړای شی پرته له دی چې پراخ مخالفت راوپاروی خلک په دی قانع کړی چی له نوموړی کرکیلی څخه لاس واخلی.

خو له پاکستان سره د ننګرهار موقعیت ته د یوی عمده سوداګری لاری په توګه پاملرنه دا ټول په ۲۰۱۴ کال کې نوموړی ولایت ته څه مانالری او پرکابل به څنګه اغیزه وکړی؟ او په دغه کال کې چې د متحده ایالاتو د قوتونو بیرته تګ عملی کیږی او د جمهوری ریاست ټولټاکنی را نږدی شوی نو د کوکنارو د کښت پرضد به د حکومت بی کفایتی کومی کچې ته ورسیږی؟ په افغانستان کې د نوروستونزو په شان، په ننګرهار کې د بی امنیتی لوړی کچی او د سیاسی شخصیتونو ترمینځ پراخی بی اتفاقی ته په پاملرنی سره، د نوموړی ولایت دراتلونکی په هکله وړاندلید ډیر سخت کار ده. خو یوه خبره ډیره ښکاره ده چې که چیری د سیاسی رهبری ترمینځ بحران حل نشی، د مخدره توکو د کرکیلی کچه به لوړه شی او د ۱۹۹۰ کلونو په شان به ډیری لوړی کچی ته پورته شی. که چیری سیاسی بحران د لاخرابیدلو خواته لاړشی نو ډیر امکان شته چې د کوکنارو کښت یوځل بیا د ولایت کوزو او نږدی سیموته، د کانال په شمول وغزیږی، چیرته چې د ولایت پراخی کرنیزی ځمکی شتون لری. عمده لویی لاری ته نږدی د کوکنارو د کرنی منظره به یوځل بیا خلکو ته د دولت د قوت یا کمزورتیا کچه څرګنده ګړی.

## بلخ: د کمره په څنډه کې؟[20]

په بلخ کې د بریالیتوبونو په هکله شک او تردید زیاتیږي او په ټول ولایت کې د کوکنارو پرضد د مودلونو (نمونو) د عملي کیدو په لارکې ستونزې را مینځ ته کوي. د کوکنارو پرضد د ولایتي اداري هڅې په ۲۰۰۷ کال کې د یو اغیزمن بندیز د تطبیق په نتیجه کې نه بدلیدونکې ښکاري، او په ۲۰۱۲ کال کې UNODC یو ځل بیا نوموړي ولایت " له کوکنارو خلاص" ولایت اعلان کړ. په هرصورت لکه چې یوه ولایتي مامور د ۲۰۱۲ کال د ارزونې په جریان کې وویل: "د بلخ ولایت به له کوکنارو پاک ونومول شي خو دا خلاصون د تیر شوي کال په پرتله پوره خلاصون او پاکوالی نه شمیرل کیږي".

د UNODC له خوا د ستلایت محدود نظارت[21] او د امریکې د حکومت د جرمونو او مخدره توکو د مرکز د اټکل پربنسټ په ۲۰۱۲ کال کې د مخدره توکو ۶۴۰ هکتاره کښت شتون درلود او د ویجاړولو دریځ یې یو څه پیکه ښکاریده. تیر کال د مې په میاشت کې د نیګمړي ویجاړیدو کمپاین په هکله ریپوټونو وجود درلود، چې په یوې سیمې کې د یوې او قولبې په جریان کې د یو IED (په لاس جوړ شوي ماین) د چاودلو وروسته، ډیر ژر متوقف شو. سږکال د ویجاړولو کمپاین ډیر جدي برینیده چې د دوومیاشتو په جریان کې په دري مرحلوکې سرته ورسیږي. په اخري مرحله کې له تراکتورونو څخه کاروااخیستل شو او د ویجاړولو کار کوونکې شا اوخوا لس ورځې په ساحې کې پاتې شول چې د تیرشوي کال په پرتله اوږده موده ګڼل کیږي. ډیر جدي کمپاین په ضمني توګه د ډیري شوي کرکیلې او د هغې د ویجاړولو په هکله د نوي تصمیم ښکارندوي ده. په هرحال، دویجاوړولو د وخت به هکله او دا چې د کرکیلې له مینځه وړل یوازې په هغو سیمو پورې محدود وو چې سړک ته نږدې وي، پوښتنې شتون لري.

ریپورټ شوي کرکیلې په نوموړي ولایت کې له بې امنیتي سره یو ځای ده او دغه کښتونه د چمتال او چاربولک ولسوالیو په نا امنه برخوکې تمرکز لري. امنیتي وضعه د نوموړو ولسوالیو په یو شمیر سیمو کې د افغان محلي پولیس د توظیفولو په سبب ښه شوې ده. د ولایت غربي سیمي تراوسه هم د حکومت لپاره د تللو وړ نه ګڼل کیږي. دغه سیمې د طالبانو او اسلامي ګوند ترتسلط لاندې دي او د کوکنارو د کرلو لپاره مساعدې ګڼل کیږي. داسې ښکاري چې امنیتي وضعه د بلخ په ولسوالۍ کې چې پخوا د کوکنارو د کرکیلې سیمه وه، د نوولارو او سړکونه له برکته ښه شوې ده. د نوي لارو ترڅنګ د زرنج ریکشاوو ( د دري ټایرو نو درلودونکي موټر بایک چې په مختلفو ټریلرونو مجهز کیدای شي او د خلکو او مالونو د ترانسپورت لپاره په کاریږي) پراخ رواجیدل چې د ترانسپورت مصرف یې ډیرلږ کړی دی بزګرانو سره مرسته کوي تر څو زیاتیدونکې سابه ( سبزیجات) په آسانتیا سره په مزار شریف کې ښاري بازارونوته انتقال کړي. له کرل شوو سیمو پرته، داسې برېښي چې د کوکنارو حاصلات به د پروسږکال په پرتله ډیرشي، ځکه چې د ږلي اوریدلو د سبزیجاتو د کښت لویه برخه تخریب کړې ده. د نوموړي ولایت په ځینو برخوکې د پسرلي سختوسیلابونو، د چمتال او بلخ په ولسوالیو اغیزه نه ده کړې او داسې معلومیږي چې کرنیز حاصلات به په عمومي توګه د پروسږکال په پرتله ښه وي.

همدا ډول د کوکنارو کرکیله په نوموړي ولایت کې د لوی اقتصاد په جریان پورې اړوند دی، چې راتلونکې ئې مهم ښکاري او د ۲۰۱۴ کال په انتقال او همدا ډول په نورو سیمه ایزو سیاستونو پورې اړه لري. د ۲۰۱۳ کال په پسرلي کې د ریپوټونو پراساس په مزار شریف کې تعمیراتي کارونه ډیرلږ وو، او د مزد او اجوري ټیټ نرخ ته په پاملرنې سره، د ودانیزو کارونو شتون د ښار د شا اوخوا ولسوالیو او نورو کلیوالو سیمو خلکو د معیشت او ژوند لپاره ډیر اهمیت لري. په ودانیزو ( ساختماني) کارونوکې لږوالی د ۲۰۱۴ کال وروسته مبهمو شرایطو په درشل کې صورت مومي چې ډیري محلي پانګې له ولایت څخه وتلې دي او ډیر کارونه په " ټپه دریدلې" دي په عین حال کې د ریپوټونو پر بنسټ ایران ته د کار لپاره مهاجرتونه د افغانانو په مقابل کې د دغه هیواد له خوا زیاتیدونکي بندیزونو او د ریال[22] د ارزښت د ډیر راټیټدلو په سبب، لږ شوي دي. پورتنیو دواړو عواملو په ولایت کې ډیرو کورنیو ته د پیسو د جریان کچه لږ کړې ده.

په داسې حال کې چې افغان محلي پولیسو (ALP) د چاربولک او چمتال په ځینو برخو کې امنیتي وضعه ښه کړې ده، خو دهغوی د اوږ دمهاله اغیزو په هکله پوښتنې وجود لري. د افغان د محلي پولیسو د قوماندانانو غیر ثابت او اپورتونیسي تاریخ ته پاملرنه، ډیرخلک د دوی د رول په هکله دوه زړه کړي دي، او د کوکنارو پرضد د هغوی وفاداري او تعهداتو ته د شک په سترګو ګوري[23]. لکه په نورو ځایونو کې د دوی په هکله هم د کوکنارو د کروندګرو څخه د پیسو اخیستلو او حتی د کوکنارو په کرکیله کې نیغ په نیغه ګډون، تومتونه شتون لري. لکه چې یو شاهد یادونه کوي: " دوی د امنیت په هکله مسئولیت لري. د کوکنارو له مینځه وړل د هغوی دنده نه ده". په نوموړي ولایت کې امنیت هم په ګاونډي فاریاب، جوزجان، او سرپل کې د وضعې له اغیزې لاندې دي.

## هلمند: کاسه به څه وخت ډکه شي؟[24]

په هلمند کې هم د کوکنارو کرکیله مخ په زیاتوالی ده. UNODC په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کال کې د کوکنارو په کښت کې ۱۹ سلنه ډیروالي ریپوټ ورکړی دی، د متحده ایالتونو اټکل دغه ډیروالی خورا زیات لوړ، ۴۷ په سلوکې ښیي[25]. حتی پخپله په غذایي زون کې د کوکنارو زیاتوالی د متحده ایالاتو د حکومت ریپوټونه په ۲۰۱۱ کال کې له ۲۶,۶۳۲ هکتارو څخه په ۲۰۱۲ کال کې ۳۲,۲۹۹ هکتاروته ډیروالی، چې ۲۱ په سلوکې کیږي، په ګوته کوي[26]. په داسې حال کې چې UNODC دغه شمیرنه په ۲۰۱۲ کال

---

[20] This section is based on fieldwork undertaken in April 2013, as well as previous rounds of fieldwork in Balkh. See Paul Fishstein, “A Little Bit Poppy-free and a Little Bit Eradicated: Opium poppy cultivation in Balkh and Badakhshan provinces in 2011-12” (Kabul: AREU, 2013).

[21] The UNODC/MCN Afghanistan Opium Survey 2011 offers a map of the satellite imagery for the area covered in Balkh during the 200/11 growing season. This map shows only a small area of coverage in Chimtal District. See “Afghanistan Opium Survey 2011.”, 85. The 2012 Survey indicates that there was no satellite imagery for Balkh during the 2011/12 growing season. See “Afghanistan Opium Survey 2012,” 74.

[22] This has devalued by roughly one-third since January 2009, largely due to Western economic sanctions. See Paul Fishstein, “Balkh’s Economy in Transition” (Kabul: AREU, 2013).

[23] For example, the ALP in Alburz reportedly took their government-provided weapons and went into opposition.

[24] This section is based on fieldwork undertaken in April 2013, as well as previous rounds of fieldwork in Helmand. See David Mansfield, “Between a rock and a hard place: Counter-narcotics efforts and their effects in the 2011-12 growing season” (Kabul: AREU, 2011); David Mansfield, “All Bets are off! Prospects for (B)reaching agreements and drug control in Helmand and Nangarhar in the run up to transition” (Kabul: AREU, 2013).

[25] UNODC reported that opium poppy cultivation in Helmand increased from 63,307 ha to 75,176 ha, while the US government estimated that cultivation rose from 61,500 ha to 90,500 ha over the same period.

[26] Cultivation is still well below the amount in the Food Zone in 2009 and 2010, when the

کې په غذایي زون کې ډیر لږ ښودلی ( یوازی ۲۰,۲۴۱ هکتاره)[۲۷]، خو د نوموړی موسسی د ۲۰۱۳ کال د ارزونې پربنسټ په ۲۰۱۲ / ۲۰۱۳ کال کې د لوړو قیمتونو او د ۲۰۱۲ کال د اپریل / می په میاشتو کې د لږ حاصلاتو له کبله، د کوکنارو د پراخوالی اټکل شوی دی[۲۸].

په ۲۰۱۳ کال کې په هلمند کې د کوکنارو د کښت په هکله وړاندلید ستونزمن کار دی. د کوکنارو د کرلو په فصل کې په مرکزی هلمند کې ساحوی ارزونې  د نادعلی او مارجی په لویدیز او همدا ډول په نهرسراج کې د ګرشک د ریسرچ د مرکز په شا او خوا کی، د کوکنارو د بیا کرنی واضح نیت ښکاروی. په هرحال د ۲۰۱۳ کال د اپریل / می د میاشتو ساحوی ارزونې و ښودله چې په مارجه او نادعلی کې امنیتی قوتونو ډیر بزګران مجبور کړل چې خپل د کوکنارو کښت ویجاړکړی. په دغه جریان کې محلی پولیسو ډیر ستر رول ولوباوه، ځکه چې هغوی ډاریدل چې په سیمه کې د کوکنارو د کښت د شتون په نتیجه کې به خپلی دندی او نور امتیازات له لاسه ورکړی.

په داسی حال کې چې د نهرسراج په ولسوالی، په تیره بیا ګرشک ته نږدی د مالګیر او سره کلا کی د کوکنارو کرکیله زیاته شوه، خو د کوکنارو کرل په ډیرو لیری سیمو او نا امنه سیموکی محدود پاتی شول، د غذایی زون  په ولسوالیو لکه مارجه، نادعلی، لشکرګاه او نوی بره کی، کې د کوکنارو کښت د بزرګرانو د دیوالونو شاته په احاطه شوی ځایونو کې صورت ونیو. حتی د کوکنارو د لږ کچې کرکیلی په هکله د بوغرا د کانال د پخوانیو د ښتو په ځمکو کې د هغو بزګرانو له خوا چې لس جریبه (۲ هکتاره) یا له هغه ډیری ځمکی لری، راپور ورکړشو. له دی ویری چې د ۲۰۱۲ کال لږ حاصل به بیا واقع شی، او همدا ډول له دي ډاره چې په ۲۰۱۲ /۲۰۱۳ فصل کې به د تریاکو قیمت ټیټ شی، د دغی سیمی کورنیو د ۲۰۱۲ / ۲۰۱۳ کال په فصل کې یوازی د کوکنارو کرکیله ونه منله او ددی پرځای، هغوی په خپلو ځینو ځمکو کې د کورنی مصرف لپاره غنم، او په نوروکې کوکناروکړل.

په عمومی توګه، په ۲۰۰۸ کال کې د کوکنارو په کرلو بندیز مرسته وکړه چې یو شمیر ټولنیزی – اقتصادی او سیاسی پروسی  رامینځ ته کړی چې په غذایی زون کې ئي په کوکنارو کې د لاس ته راغلو بریالیتوبونو دوام خورا ستونزمن کړ. په دغو پروسو کې پخوانیو دښتوته مهاجرت، ځمکوته لږ لاسرسی او دلږ ځمکو بزګرانو لپاره بی کوری، د بی وسی په سبب د څارویو خرڅول، او په پخوانیو دښتوکې یوازی د کوکنارو کرل، شامل وو.

لکه په ننګرهار او بلخ کي، دلته هم د ولایت مرکز ته نږدی شاوخواته د اقتصادی پرمختیا نښی نښانی د لیدلو وړدی. دلته ښه امنیت، یا مناسبو عامه خدمتونو او په کرنیز سکتور کې د اقتصادی فرصتونو ښه والی ـــ او په تیره بیا په غیر کرنیزو فعالیتونو کې ـــ د بزګرانو په ټول ژوند کی اصلاحات راوستلی دی. دغی وضعی په خپل نوبت له دولت سره د هغو په اړیکوکی ښه والی را مینځ ته کړی دی.

خو د ولایت له مرکز څخه لیری سیموکی په کښت او کار کې ښه والی او په عوایدوکی تنوع لږ ترسترګو کیږی. له بلی خوا په هغو سیمو کې چې امنیت ښه شوی، او په نتیجه کې د کوکنارو په کښت باندی بندیز لګیدلی، خو په اقتصادی فرصتونوکی یی اصلاحات را مینځ ته کړی نه دی، د حکومت په مقابل کې یی د خلکو غصه را پارولی ده . په غذایی زون کې د کوکنارو د کښت کچې لږیدل د لږ ځمکوخاوند بزګران لا ډیر زیان منونکی کړی دی. په هغو وختونوکی چې کوکنار په پراخه پیمانه کرل کیدل، نوموړو کورنیو  په غذایی زون کې د کوکنارو ګډ کښت کاوه چې د ځمکو له خاوندانوسره د موافقی پراساس د حاصلاتو یوه دریمه یا نیمایی برخه دوی اخیستله. ددغه ګډ کښت په مقابل کې هغوی ته یو کور او مالی ملاتړ که څه هم په استماری نرخ–د نغد پور یا سلم  له لاری ـــ هم ورکول کیږی.

کله چې پلان جوړیږی چې کومی غلي داني باید وکرل شی، ډیروکورنیوته به د کانال په ساحه کې لومړیتوب داوی چې دخپل غذایی مصئونیت لپاره کافی ځمکه په لاس کې ولری. هغه بزګران چې څاروی هم لری یو څه لږ ځمکه (چې له یو جریب، یا د یوه هکتار پنځمی برخی څخه ډیره نه وی) د رشقې د کښت لپاره بیلوی چې بیاوروسته دغنمو د وښو سره ګډه شی او د څارویو د تغذیې لپاره ورڅخه کارواخیستل شی– دغه څاروی نه یوازی د خرڅولو لپاره بلکی هم دغوښی (په تیره بیا د لاندی غوښي)[۲۹] لپاره او هم کورنی ته د لبنیاتو د تهیه کولو لپاره روزل کیږی. په پاتی شوی ځمکه کې چې د کورنی کرنیزی ځمکو له ۴۰ تر ۶۰ په سلوکی جوړوی، دژمی په موسم کی کوکنارکرل کیږی. د دوبی په موسم کې نوموړی کورنی په خپلو ځمکو کې جوار، می، پنبه، هنداونی او خټکی کري.

د کوکنارو د نه شتون په صورت کې کانال ته نږدی سیمو کې د بی ځمکو بزګرانو د معشیت وضعه لا ډیره خرابیږی، ځکه چې د کښت لپاره ځمکه نه لری. په همدی ډول، هغه کښتونه چې په نادعلی او مارجه کې یی د کوکنارو د کرکیلی ځای نیولی تر ډیری اندازی لږ کارته اړتیا لری. دغی موضوع د ځمکو خاوندانو ته دا امکان برابر کړی چې پخپله دخپلی ځمکی کښت په غاړه واخلی او نور هغو بزګرانوته ضرورت نه لری چې د دوی ځمکی د شراکت په توګه کښت کړی. په دی توګه د کوکنارو د کرکیلی له بندیز وروسته، غریبو بزګرانو او لږ ځمکو بزګرانو لپاره کانال ته نږدی د کور درلودل اودشریک  کښت لپاره د دحاصلخیزو ځمکو پیداکول په ډیر ستونزمن کار بدل شوی دی. ددی ترڅنګ د نوموړو بزګرانو د چنې وهلو ډیر لږ قدرت، مجبور کړی چې د ځمکی د کرلو په مقابل کی له ډیر لږ سهم سره موافقه وکړی. سهمکار بزګران مجبور دی زیاتی ځمکی، شا اوخوا ۱۵ جریبه (دری هکتاره)، کښت کړی تر څو هغه څه ترلاسه کړی چې ورته ډیر اړ دی. دا موضوع پخپله ددی لامل شوی ده چې نورو بی ځمکو بزګرانوته چې ګډ کښت ( سهمکاری) ته تیاردی، ځمکی ډیری لږ شی.

US government estimated 45,917 ha and 40,972 ha respectively.

[27] The Executive Director's Preface states: "less poppy was cultivated within the confines of the Hilmand 'Food Zone', where agricultural support programmes are implemented." At the same time, UNODC only offer an estimate for the scale of cultivation within the Food Zone during 2012. See MCN/UNODC 2012: page 13).

[28] UNODC/MCN, "Afghanistan Opium Risk Assessment 2013" (Kabul: UNODC/MCN, 2013), 1.

[۲۹] Landi is a type of dried lamb meat, consumed largely during the winter months.

## لومړی جدول: د پنځلسو جریبو ځمکې څخه ناخالص عاید

| | د ځمکې اندازه (جریب) | حاصل | قیمت (پاکستانی روپۍ) | د ځمکې د خاوند عاید (پاکستانی روپۍ) | د اجاره کوونکی عاید[1] (پاکستانی روپۍ) | د سهمکار بزگر عواید[2] (پاکستانی روپۍ) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| غنم | ۸ | ۱۹۰ | ۱۵۰ | ۲۲۸,۰۰۰ | ۱۵۶,۰۰۰ | ۴۵,۶۰۰ |
| علوفه (رشته) | ۱ | نه | نه | ۰ | ۰ | ۰ |
| پنبه | ۶ | ۱۷۰ | ۲۲۰ | ۲۲۴,۴۰۰ | ۲۲۴,۴۰۰ | ۴۴,۸۸۰ |
| جوار | ۴ | ۱۸۰ | ۱۰۵ | ۷۵,۶۰۰ | ۷۵,۶۰۰ | ۱۵,۱۲۰ |
| مې | ۴ | ۱۶۰ | ۲۶۰ | ۱۶۶,۴۰۰ | ۱۶۶,۴۰۰ | ۳۳,۲۸۰ |
| **ټول ناخالص عاید[3]** | | | | **٦٩٤,٤٠٠** | **٦٢٢,٤٠٠** | **۱۳۸,۸۸۰** |
| **ټول ناخالص عاید/نفر/ورځ[4]** | | | | **۱۹۰ .۲۵** | **۱۷۰ .۵۲** | **۳۸ .۰۵** |

۱. د ۲۰۱۲ / ۲۰۱۳ کال په فصل کې اجاره کوونکو بزګرانو د هر جریب پرسر ۶۰– ۷۰ منه غنم ورکړل
۲. سهم کارو بزګرانو ته له نهایي حاصل څخه یو پنځمه برخه رسیږي
۳. نوموړی ارقام په جدول کې ښوولو په منظور ساده شوی دی. په واقعیت کې بزګران د کورنۍ د مصرف لپاره کافي اندازه غنم، جوار او مې ساتی. البته ملا برخه ( دټولو حاصلاتو دری په سلوکې)، او دراتلونکی فصل لپاره تخم هم ساتی. مهمه ده چې یادونه وشی چې یوازی یو څو بزګران د کانال په سیمه کې ۱۵ جریبه ځمکه کرلی شی.
۴. د کورنۍ غړی دلته لس کسان اټکل شوی چې د هغوی له جملې څخه دوه تر دری غړی په کاربوخت شمیرل شوی.

په ټیټ ارزښته حاصلاتو لکه پنبې، جوار او میو کی یو پنځم سهم ددی سبب شوی چې غریب او لږ ځکمی بزګران مجبور شی چې د خپل خوراک کمیت او کیفیت لږکړی، روغتیایی مصرف حتی د ډیرو سختو ناروغتیاوو لپاره وځنډوی، او خپل اوږدمهاله حاصل ورکوونکی شته ، لکه څاروی خرڅ کړی. د پسونو او نورو څارویو د خرڅولو په نتیجه کې د لاندی غوښې او لبنیاتو څخه محرومیدل د دغو خلکو ژوند او هوساینه له ډیرو ستونزو سره مخامخ کړی ده. د ټولنیزو اړتیاوو لکه د جنازی او فاتحی مراسم او ودونه[30] یوازی د ډیر پور له لاری ترسره کیدای شی، چې بیرته اداکول یې پرته د کوکنارو له کښت څخه ممکن نه بریښی. هغو کسانوته چې ځمکه نه لری، انکشافی مرستی لکه کرنیز تولیدی عوامل – اصلاح شوی کرنیز تخمونه، کیمیاوی کود، او واټر پمپونه نه ورکول کیږی چې له بزګرانو سره مرسته کوی ځان د کوکنارو د بندیز له شرایطو سره عیار کړی.

په هر حال لږ ځمکی بزګران یوازنی خلک نه دی چې له مجبوریتونو سره مخامخ دی. د مارجی او نادعلی په ډیرو برخوکی بزګرانو د ټیټ قیمت او ارزښت محصول لکه غنمو، جوارو، پنبې او میو کرلوته دوام ورکوی چې قیمتونه یې راکوزیږی. دا موضوع ددی ښکارندوی ده چې په دی سیمو کی د لوړ قیمته محصولاتو لپاره بازار نشته. ځکه چې پورتنی یادشوی حاصلات لږ عاید لری او اقتصادی خطریې هم لږ دی نو کیدای شی چې د کورنی له خوا مصرف شی. د مثال په توګه غنم په کورنی کې او دغنمو واښه یا پروړه د څارویو لپاره مصرف کیدای شی. په همدی توګه په بازارکې د قیمتونو د سیالیت او ښکته او پورته کیدلو په صورت کی نوموړی حاصلات ذخیره کیدلای هم شی. د پنبې کښت یو بل امتیاز هم لری چې د پنبې له ټولولو وروسته یې بوټی د پخلی او تسخین لپاره په کاریږی. د یادولو وړده چې د کوکنارو بوټی هم په هغه وخت کې چې زیات کرل کیدل د همدغه مقصد لپاره کاریدل.

په عین حال کې، هغو کسانو چې د کوکنارو کرل یې بس کړی او د نوموړو حاصلاتو کرلوته یې مخه کړی وه، په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کال کې یې میو او جوارو د بیې اوقیمت د را ښکته کیدلو په نتیجه کی لا ډیر ضرر کړی دی. د بیو دغه لویدنه پخپله پر کوکنارو له بندیز وروسته د نوموړو غلودانو کرلوته د ډیرو خلکو د مخه کولو نتیجه ده[31]. (لومړی جدول دی وکتل شی). بزګران په خاصه توګه د پنبې په قیمت کی د لیدوړ او دراماتیک راکوزیدل چې د ۲۰۱۲ [32] کال په نومبر میاشت کې د ۲۰۱۱ [33] کال د نومبر د میاشتې په پرتله هر من له ۳۵۰ – ۴۲۰ پاکستانی روپیو څخه هرمن ۱۹۰ – ۲۲۰ پاکستانی روپیو ته راکوز شوی، خلک ډیر په غوصه کړی دی. هغوی په لشکرګاه کی د حکومت د پنبې د جن اوپرس کارخانه او د هغې اداره او مدیریت په فساد او بی کفایتی تومتی کوی. په غذایی زون کې، چیری چې د کښت او حاصلاتو تنوع رامینځ ته نه شو، یوازی هغه کورنی له ضرر څخه مصئون پاتی شوی چې د محصولاتو له تنوع، غیر کرنیزو عایداتو او په تیره بیا د ډیرو ځمکو (له ۱۵ جریبو یا ۳ هکتارو څخه ډیروځمکو) درلودلو له امتیازڅخه برخمنې وې. هغه کسان چې دا دری واړه امتیازونه یې په لاس کی وو ترټولو یې حالت ښه وو.

لکه چې لاندی په دریمه برخه کې بحث شوی ، په غذایی زون کې د کورنیو لمړنی عکس العمل د عایداتو په لاسه ورکولو کې چې د کوکنارو د کښت له بندیز سره یوځای وو، د بوغره کانال شمال خواته پخوانیو دښتوته کوچیدل وو. ددغه مهاجرتونو جریان په نوموړو ځایونوکې د نفوسو زیاتوالی دی چې د خپل ژوند او معیشت لپاره

[30] Bride prices in central Helmand typically range from PR500,000 to 900,000 ($4,890 to $8,800). The cost of the actual wedding might add a further PR 200,000 to 300,000 ($1,955 to $2930) and there are further costs to meet in terms of clothes for the bride and groom and other gifts. Key informants report that there has been an increasing incidence of couples eloping in the last two to three years as a consequence of families being unable to meet the costs of marriage.

[31] Mung bean has fallen from a price of PR 290-350/man in 2011 to PR 280-330/man in 2012 (or from $2.80-$3.40 to $2.70-$3.20); maize has fallen from PR 100-120 /man in 2011 to PR70-75 PR/man in 2012 ($1.00-$1.20 to $0.70-0.75)..

[32] In November 2012 there were 95 PKR to 1 USD.

[33] In November 2011 there were 85.5 PKR to 1 USD.

په لویه کچه د کوکنارو په کښت پورې تړلې دی. دغه ځمکې اساساْ د هلمند پخواني والي شیرمحمد آخوندزاده (۲۰۰۲– ۲۰۰۵) ته نږدې قوماندانانو په لاس کې وې، وروسته کونیو قوماندانانو ته تحفه شوې او هغوی هم د کانال د شا اوخوا ځمکو په پرتله په ډیره ارزانه بیه په بزګرانو خرڅې کړې.

په ۲۰۱۰ کال کې دتریاکو لوړ قیمت ددغې سیمې بزګرانو ته چې له لس جریبه ( ۲ هکتاره) ډیره ځمکه یې درلوده دا امکان برابر کړ چې یو څه پانګه ذخیره کړي، او نورو ته د ژوندی پاته کیدلو او په سیمه کی د ځمکې، عایداتو، او هوساینې له لاسه ورکولو څخه د ژغورنې لپاره، یوڅه ورکړي. په هرحال، اوس بزګران د دوهم پرله پسې کال لپاره د کوکنارو د حاصل د لږوالي په هکله خبرې کوي چې لامل یې " په کښت باندې د امریکاییانو له خوا دواشیندل" ګڼي. داسې بریښي چې د حاصلاتو د لږوالي له کبله چې په هر جریب کې له نیم من (۵. ۲ کیلو ګرامه) تر درې چارکه (۲۷۵. ۳ کیلو ګرامه) پورې راکوزشوې دي، د ځمکو خاوند یا اجاره کوونکي بزګران ادعا کوي چې دوی کولی شي یوازې د تولید مخارج پوره کړي. سهمکار بې ځمکې بزګران ادعا کوي چې له لس جریبه ( دوه هکتاره) کوکنارو څخه یوازې ۲۵. ۱ منه او ډیر ترډیره ۲,۵ منه حاصل اخلي. هغه کسان چې د حاصل په راټولولو کې کارکوي وایي چې اوس دوی ته یوازې یو چارک (۱۲۵. ۱ کیلو ګرامه) تریاک ورکول کیږي، په داسې حال کې چې په نورو کلونو کې یې دوه چارکه ترلاسه کول. ډیر کسان ادعا کوي چې دوی د ۱۵ تر ۱۸ ورځو کار په مقابل کې یوازې ۶،۰۰۰ پاکستانی روپۍ ( ۶۱ امریکایي ډالر)[۳۴] او ۱۵،۰۰۰ پاکستاني روپۍ (۱۶۳ امریکایي ډالر) ترلاسه کړې چې د ۲۰۱۱ کال د ۲۵،۰۰۰ پاکستاني روپیو (۲۹۴ امریکایي ډالرو) په پرتله ډیرې لږ دي.

سهمکار بزګران په تیره بیا هغه کسان چې وضعیت یې بحراني ده او نشي کولای د تولید په مخارجوکې برخه واخلي، اوس ځان له خورا ستونزمن حالت سره مخامخ ګڼي، او مجبور دي چې د نهایي حاصلاتو په یوه څلورمه برخه قناعت وکړي. د اقتصادي کمزورتیا او شدید فقر شاخصونه خورا ښکاره دي، او کورنیو د خپلو عایداتو د لږوالي له کبله د خپلو خوړو په کمیت او کیفیت کې ډیرلږوالی راوستلی دہ. د خلکو ددې برخې غذایي مصئونیت دی حقیقت ته په پاملرنې سره چې په سیمه کې ډیر سهمکار بزګران غنم نه کرې او د خپلې کورنۍ د نس مړولو لپاره په کامله توګه په هغو پیسو متکي دي چې د تریاکو له خرڅلا و څخه یې لاس ته راوړي. ډیرې کورنۍ همدا اوس د مهاجرت په هکله خبرې کوي.

پوښتنه داده چې دغه خلک چیرته تللی شي؟ د کانال په شا او خوا سیمه کې د کوکنارو په کرکیله باندې د بندیز په نظر کې نیولو سره، ډیر لږ د ځمکو خاوندان شته چې زراعتي کارګرانو ته ضرورت ولري او کولای شي غریبو بزګران ته لږ ځمکه او کور ورکړي چې هغوی یې په تمه کې دي. ددي ترڅنګ حتی سهمکار او اجاره کوونکي بزګران د ډیرو حاصلخیزو ځمکو د غذایي زون په پخوانیو د ښتوکې چې د ژورو څاګانو په واسطه خړوبیږي ( لکه دشت بشاران، دشت علنیک او دشت شرشرک) په لټه کې دي. دغه خلک چې د کوکنارو په کرکیله باندې له بندیز وروسته یې په خپلو عایداتو کې د خورا پام وړ لږوالی تجربه کړې دي، د حکومت په ډیرو سختو د ښمنانو بدل شوي دي.

د بې ځمکو بزګرانو پرخلاف، د ډیرو هغو کسانو له خوا چې د بغرا د کانال په شمالي دښتوکې یې ځمکه ترلاسه کړې د مهاجرت په هکله خبرې نه اوریدل کیږي. آخر دغه سیمه اوس د دوی کور دی او هغوی په هرحال د لږ حاصل سره سره، د کوکنارو کرکیلې ته دوام ورکوي، او هیله لري چې بزګران د دوی د ځمکې خوشې نه کړي او یا نورمهاجر بزګران د دوی د پخوانیو بې ځمکو بزګرانو ځای ډک کړي.

او بالاخره، د پوښتنې وړده چې آیا د هلمند قانوني اقتصاد کولای شي په یوه وخت کې په انکشافي مرستو کې لږوالي او د کوکنارو په تولیدکې کمښت یوځای وزغمي؟ لکه د افغانستان په نورو ښاري مرکزونوکې، په لښکرګاه کې د کار واقعي مزد لږ والي مومي، او هغوی چې په کار پسې ګرځي شکایت کوي چې ډیرې ورځې کار نشي پیدا کولای. په مرکزي هلمند کې د کوکنارو پرکرکیلې باندې د څلورو فصلونو له اغیزمن ممنوعیت او بندیز وروسته حتی د ځینوکورنیو د تریاکو ذخیرې هم خلاص شوې دي. ځینو کسانو چې پانګه یې درلوده له خپلې پانګې څخه په هوښیارتیا ګټه پورته کړې او په غیر کرنیزو ساحوکې یې د عوایدو د لاس ته راوړلو لپاره پانګه اچونه کړې ده. ځینو کسانو موټر رانیولي او د تکسي په توګه یې بل چاته په کرایه ورکړیدي؛ ځینو تراکتور رانیولي چې د کرکیلې په فصل کې یې نوروته په اجاره ورکوي، ځینې نورو هټۍ جوړې کړې او د هر ډول مالونو لکه کرنیزو محصولاتو او استهلاکي شیانو په رانیولو او خرڅلاو بوخت شوي دي، او نورو یوه زرنج ریکشا رانیولې چې له زراعتي ځمکو څخه حاصلات بازارونوته ولیږدوي.

خو د کوکنارو او د نړیوالې ټولنې د انکشافي مرستو له څواړخیزو اغیزو پرته به د دغو خلکو مصرفي عایداتو ته څه واقع شي؟ دمثال په توګه د نړیوالې مرستې له لږوالي او پرکوکنارو باندې د بندیز په شتون کې به د قانوني اقتصاد د پراختیا لپاره اقتصادي مشوق له کوم ځایه شي؟ څوک به د ټکسي یا تراکتور د کرایه کولو او اجارې توان ولري چې په قانوني اقتصاد کې شغلي فرصتونه لږ او پانګه اچونه محدوده وي؟ کوم سکتور به د ساختماني صنایعو[۳۵] چې د کلیوالو کورنیو لپاره د کار د فرصتونو منبع ده، ځای ونیسي؟

د اقتصادي لوړ فشار په شرایطو کې د کوکنارو بیا کرکیله، د هلمند د کانال په سیموکې د کښت او کار تګلاره به تر ډیرځایه د دولت په اجباري قوت، او په تیره بیا د دولت په استازیتوب په محلي پولیسو پورې اړه ولري. داسې څرګندیږي چې له همدا اوسه د کوکنارو د ممنوعیت د عملي کولو په هکله په تیره بیا په هغو سیموکې چې د معیشیت لږ بدیلونه شته، په سیاسي پریکړو کې افتراق او کمزوري پیل شوی ده (څلورمه برخه دې وکتل شي). په عین حال په دې باره کې پوښتنې وجود لري چې په اوسني سیاسي فضا کې کومې مرستې کولای شي چې د قانوني اقتصاد د پراختیا ملاتړ وکړي، او د خلکو هغو ټولنیزو اقتصادي ګروپونو لپاره اقتصادي فرصتونه پراخ کړي چې د کوکنارو له بندیز څخه یې ډیر ضررونه لیدلي دي. دغو فشارونو ته په پاملرنې سره د کوکنارو بیا کر کیله په هلمند کې د کانال شا او خوا ته تقریباْ اجتناب نه منونکې بریښي.

[۳۴] In May 2013 there were 99 PKR to 1 USD.

[۳۵] The World Bank reports that construction and services account for 64 percent of the working population in urban centres but only 24 percent in rural areas. See “Afghanistan in Transition,” 65. However, fieldwork in rural Nangarhar and Helmand highlights the important contribution non-farm income, in particular wage labour opportunities in the construction sector and enlistment in the ANSF, have made to the household economy in the absence of opium poppy cultivation.

# ۳. په ګلونو د دښتو بدلول

په وروستیوکلونوکې، UNODC او د متحده ایالاتو حکومت په سهیل او په عمده توګه په هلمند او فراه کې د کوکنارو د کښت په ځمکو کې یو ډیر دراماتیک ډیروالی ترسیم کړی دی. په دواړو ولایتونو کې د نوموړی ډیروالی اساسی سبب په پخوانیو دښتوکی د ځمکو ترکښت لاندی راتلل ګڼی. په هلمند کې، د زراعتی ځمکو کچه د بغرا کانال په شمال کې په اریانونکی توګه ۴۶ ځلی زیاتوالی موندلی او په ۲۰۱۲ کال کې د ۲۰۰۲ کال په پرتله له ۷۵۲ هکتاروڅخه ۳۴,۲۷۰ هکتاروته لوړه شوی ده. په نوموړی سیمه کی د کوکنارو کرکیله چي په ۲۰۰۸ کال کې د غذایی زون د جوړیدو په درشل کې ۱۶,۰۳۶ هکتاره وه، ۱۱۳ په سلو کې زیاته شوی ده. د فراه د ولایت د بکواه په پراخه دښته کې د کوکنارو ترکښت لاندی ځمکه چې په ۲۰۰۹ کال کی ۳,۵۷۰ هکتاره وه به ۲۰۱۲ کال کی ۵,۸۲۲ هکتاروته لوړه شوی ده. د نیمروز[۳۶] د ولایت په دلارام کې د کښت کچه نږدی دری ځلی لوړه شوی او له ۳۰۱۱ هکتارو څخه ۸،۸۹۹ هکتارو ته لوړه شوی ده[۳۷]. د هلمند د نوزاد په سهیلی برخوکی زراعتی ځمکی را مینځ ته شوی دی. د دغو ځمکو ډیره پراخه برخه حتی په ۲۰۰۵ کال کې ترکښت لاندی نه وه ( دریم شکل وګوری).

لکه چې پورته وویل شو، په هلمند کی د ۲۰۰۸ کال د می د میاشتی څیړنه څرګندوی چې د غذایی زون له خړوبو ځمکو څخه ډیر بزګران د بغرا کانال شمالی دښتو ته ځی. له دغو کسانو څخه ډیر هغه بی ځمکی بزګران دی چې پخوایی په غذایی زون کې کوکنار کرل، او اوس چې د کوکنارو په کرلو باندی د ۲۰۰۸ کال له بندیز وروسته او ورپسی سیمی ته په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کال کې د نړیوالو د نظامی قوتونو د راتګ په نتیجه کې، د ګډ کښت ( سهمکاری) او د ځمکی د اجاری فرصتونه لږ شوی دی، نو له سیمی څخه یی د تللو اقدام کړی دی. د بی ځمکو بزګرانو بله ستونزه داوه چې دوی ته د حکومت له خوا د غذایی زون د ابتکاراتو پراساس، کرنیز تولیدی عوامل توزیع نه شول.

د بغرا کانال په شمال کې دښتوته له رارسیدلو وروسته، نوموړو بزګرانو ځمکی پاکی او اواری کړی، ژوری څاګانی یی وکیندلی او د کوکنارو په کرکیلی یی پیل وکړ. د دغو بزګرانو له جملی څخه ځینو کسانو دغه ځمکی د ولایت له هغو سیاسی نخبګانو څخه په پیسو راونیولی، چې لا پخوا یی د نوموړی دښتی لویه برخه غصب کړی وه او د والی اخوندزاده[۳۸] د اداری په وخت کی یی خپلو ملاتړو او ساتونکو ته ویشلی وی. ځینی نور بزګران د غذایی زون څخه د ګډ کښت کوونکو ( سهمکارانو) یا اجاره دارانو په توګه دښتی ته کوچیدلی تر څو نورو ته د کوکنارو د کرلو له لاری هومره پیسی وګټی چې خپل ځانته ځمکه واخیستلای شی. له بکوا څخه ریپوټونه ددی ښکارندوی دي چې په فراه کې د څو کسانو په لاس کې د ځمکو د تمرکز ورته (شبیه) جریان روان ده، محلی بزګران د بوغرا د کانال شمال ته دښتی له دلارام څخه تربکوا پوری " تولی یوه دښته " ګڼی[۳۹].

دښتی ته تر راتګ مخکی، ډیرو بزګرانو په هلمند کی د کانال په سیمه کې د لسوجریبو (۲ هکتارو) په حدودوکې ځمکی په ګډه توګه ( سهمکاری) کرلی چې دهغی له جملي څخه یی (۱.۶ – ۰.۸ هکتار) ۴جریبه کوکنارو او ۶ جریبه د غنمو کښت ته، د غنمو او کوکنارو ترمینځ د مبادلی نرخ ته په پاملرنی سره، اختصاص ورکاوه . تر بیا پرځای کیدو وروسته، هغوی دهمهغی اندازی ځمکی کښت ته ادامه ورکړه، خو داځل یی په ټوله لس جریبه ځمکه کی کوکنارکرل. په دوه وروستیو کلونوکې یو واحد کښت ته اوښتل د زیاتیدونکی اندیښنی سبب ده ځکه چې په سیمه کی د کوکنارو د کښت د ډیریدلو ښکارندویی کوی. دغه د دښتو د ځمکو لاندی کول او غصب د کندهار په میوند او د لومړی لویی لاری شمال خواته په زهری؟ کې او همدا ډول د فراه په ګلستان کي هم دوام لری. د کوکنارو کرکیلّه په زیاتیدونکی توګه په نوموړو سیمو کې تمرکز پیدا کوی، څرنګه چې بزګران د هغو لارو په لټون کې دی چې د ډیزلی جنریتورونو په واسطه د ژوروڅاګانو(یو ډول څاه چې په ځمکه کی د یو اوږد نل د برمی په ذریعه له ځمکی لاندی اوبه راباسی) څخه داوبو راایستلو او د ځمکی د خړوبولو لپاره مصرف برابر کړی، داسی بریښی چې دغه جریان (د ځمکو غصب او په هغو کې د کوکنارو کرل) به په نږدی راتلونکی وخت کې توقف ونه کړی.

د اریانتیا وړ نه ده، چې له غذایی زون څخه کډه کیدل ، په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کې لږ حاصلات (چې ملامتیا یی په امریکاییانو اچول کیږی) او د محلی پولیسو هڅی چې غواړی نوموړی ډول څاګانی ضبط او ویجاړی کړی، د بغرا کانال په شمال کې اوسیدونکی خلک د ولایتی ادارو په ډیرو کلکو انتقاد کوونکو بدل کړی دی. دغه مسئله د نوموړو خلکو له خوا والی منګل، د هغه پرځای ناست نعیم بلوچ او نړیوالو نظامی قوتونو او په ولایت کې د کوکنارو د محدودلو په لارکې د هغو هڅو ته په کنځلو او ناسزا ویلو کي په ښه توګه څرګندیږی.

د دښتو په ځمکو کې د کوکنارو په کرکیلی کې نوموړی زیاتوالی په زراعت کې له اصلاحاتو او نوی تکنولوژی پرته، له امکاناتو څخه لیری مالومیږی. د کوکنارو کرکیله له سلګونو کلونورا هیسی د نړی په ډیرو هیوادونو او پراخو زراعتی – اقلیمی شرایطو کی شتون درلودلای دی. د اروپا او آسترالیا په استثناء چیری چې بزګرانو په کرهنه کې پر پانګی متمرکزی طریقی لکه زیاتیدونکی ماشینی کول او د کوکنارو راز راز اصلاح شوی ډولونو څخه کار اخیستی، د کوکنارو په کرکیلی پوری اړوندی کرنیزی طریقی تقریباْ پخپل حال پاتی دی. د کوکنارو کرکیله په کار باندی متمرکز کښت دی چې حاصلات یی تر ډیری کچی په اقلیم، د خاوری پرنوعیت، د اوبو شتون او د حاصلاتو د راټولونکو په مهارت پوری اړه لری.

[۳۶] UNODC list the district of Delaram in Farah. See “Afghanistan Opium Poppy Survey 2012,” 94. The district and provincial boundaries as recognised by the government now locate Delaram in Nimroz.

[۳۷] “Afghanistan Opium Poppy Survey 2012.”

[۳۸] For details of the different waves of migration that have occurred in this area see Mansfield, “Between a rock and a hard places.”

[۳۹] Fieldwork in Shna Jama, November/December 2012.

**دریم شکل: د کرنیزوځمکو پراختیا او په ۲۰۰۵، ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ کلونوکې په هلمند، نیمروز او فراه کی د کوکنارو د کرکیلی نمونی**



په هر حال په افغانستان کې د کوکنارو کښت په ورستیو دری لسیزوکې انکشاف کړی او له اصلاح شوی تکنولوژی او تولیدی عواملو څخه یی ګټه پورته کړی چې په هیواد کې د زراعت د پراخ کرنیز انکشاف لامل ګرځیدلی دی. د مثال په توګه د مارجی او ناد علی د دښتو ډیری کلکی او سختی ځمکی په ۱۹۸۰ لسیزه کې د تراکتورونو په مرسته د کوکنارو د کښت لپاره چمتو شوی. د یادونی وړده چې په نوموړو دښتوکی په ۱۹۶۰ لسیزه کې له تراکتورونو څخه په ګټی اخیستنی سره د غنمو د کښت لپاره چمتو شوی وی. له کیمیاوی سری څخه پراخی ګټی اخیستنی، په همهغه ډول چې په پخوا کې یی د غنمو او سبو د حاصلاتو زیاتوالی رامینځ ته کړی وو، د کوکنارو حاصلات هم زیات کړل. د ۱۹۹۰ لسیزی په وروستیو کې ډیر شمیر لږ ژوری څاګانی – چې په عمده توګه د کوکنارو د کښت له خوا تمویل شوی وی – د کوکنارو د کښت لپاره مینځ ته راغلی. په پخواکې بزګرانو له دا ډول څاګانو څخه د هغی ډیری سختی وچکالی په جریان کې چې په وروستیو کلونوکې یی ساری نه درلود، د خپلو باغونو د خوندی کولو لپاره ګټه پورته کړی وه.

په تیرو دوه لسیزو کې د کوکنارو د کرکیلی لپاره ځینی ځانګړی اصلاح شوی کرنیزی طریقی هم مینځ ته راغلی دی. د مثال په توګه په ۱۹۹۰ لسیزه کې بزګرانو له نوو وسایلو او ابزارو او همدا ډول د کوکنارو له نوو ډولونو څخه چې له ګاونډیو ولایتونو او د هیواد له نورو سیمو څخه یی ترلاسه کړی وو، کار اخیستی دی. " هندی" ارغوانی ډوله کوکنار چې په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو کی په بدخشان کی خورا ډیر پیدا کیدل په یوویشتمه پیړی کې له مینځه تللی او دهغه پرځای د سرو او سپینو ګلانو درلودونکی کوکنارو چې په "جلال آبادی" مشهور دی او ډیر حاصل ورکوی، رواج موندلی دی.

په هرحال په وروستی لسیزه کې د کوکنارو په کرکیلی کی نوو کرنیزو طریقو ډیر انکشاف کړی دی. د ریپوټونو پربنسټ په هلمند کې بزګرانو د کوکنارو په کرکیلی کی د هرزه بوټو د له مینځه وړلو لپاره له نوو موادو څخه ګټه اخلی چې په کښت کی د ډیرکار له تراکم څخه مخنیوی کوی. په تیره بیا له داسی موادو لکه پاراکواټ او "ټاپیک" څخه ګټی اخیستنی د خیشاوی وخت یو دریمی او یو څلورمی ته لږ کړی دی[40]. داخبره له دی کبله د اهمیت وړده چې معمولاً داسی انګیرل ګیږی چې په کلیواله کورنیو کی اضافی کار شتون لری چې کیدای شی په کرنیزو چارو لکه د هرزه بوټو پاکولو او خیشاوی کی ورڅخه ګټه واخیستل شی. برسیره پردی، د ډیرو ځمکو درلودونکو کورنیو د کار د اجیرولو پرځای له کیمیاوی موادوڅخه کار اخیستل، نسبی مخارج راټیټوی، ځکه چې د کار مخارج د کیمیاوی موادو په پرتله لوړدی. په هر صورت نوموړی انکشافات د کار په محلی مارکیت باندی اغیزی لری.

تر ټولو مهمه خبره داده چې ژوری څاګانی په زیاتیدونکی توګه د لږ ژورو څاګانو ځای نیسی ځکه چې پاکستانی او چینایی جنریټورونه او واټر پمپونه لا ډیر ارزانه شوی دی. لکه چې پورته وویل شو، له نوی تکنولوژی څخه ګټه اخیسته، بزګرانوته دا امکان برابرکړی دی چې په دښتوکی نوی ځمکی د کوکنارو د کرکیلی لپاره چمتو کړی. له کوکنارو څخه لاس ته راغلی عواید دغه جریان آسانه کړی او د ځمکو د رانیولو، د ژوروڅاګانو د کیندلو او د تولید د لوړو مخارجو لپاره یی لازمه پانګه برابره کړی ده. دغه موضوع د کوکنارو د کرکیلی په کچه او د اوبو په اوږدمهاله شتون باندی اغیزی لری.

په هرحال په دی لوبه کی بدلون ورکوونکی عامل د لمر له انرژی څخه ګټه اخیسته ده. دځوتیرو شوو کلونو په جریان کی د لمر د انرژی د تختو قیمت د چین له خوا د لویی کچې د تولید په نتیجه کی ډیر راټیټ شوی دی[41]. نن ورځ، د ډیزلو لوړ قیمت د دښتو د هغو ځمکو کچه محدوده کړی چې یو بزرګر کولای شی هغه د کرنیز تولید لپاره ترکښت لاندی راولی. د مثال په توګه، ارزونې څرګندوی چې دبغرا د کانال په شمال کې ځینی د ځمکو خاوندان اوس هم په دښته کې ډیری ځمکی لری چې یا شاړی پاته دي، او یا ئې په نوو کډ والو باندی د خرڅولو لپاره چمتو کړي دي. ځینی نور د ځمکو خاوندان چې ددې توان نه لری پخپله دغه شاړي ځمکی وکری، اجاره کوونکو بزګرانوته یی په دی شرط په اجاره ورکوی چې د کښت او تولید ټول مصرف په غاړه واخلی. په ۲۰۱۲ کال کې د کوکنارو د کښت ټیټ حاصل د نووځمکو د کښت فرصتونه لا محدود کړي دي. په حاصلاتو کې نه بریالیتوب د دي لامل شو چې ځینی بزګران د ۲۰۱۱ / ۲۰۱۲ کلونو د حاصلاتو په وخت کې د هغو ډیزلو پیسی چې په قرض یی اخیستی وو ادا نه کړی، او دا موضوع ددی باعث شوه چې د ډیزلو خرڅوونکو د ۲۰۱۲ کال د نومبر / دسمبر په فصل کې د هغوی د ضرورت وړتیل تهیه نه کړی.

په هر حال، یو بزګر کولای شی چې په یو وار د لمر د انرژی د یوی تختی د راپیریدلو په صورت کې له ژوروڅاګانو څخه د اوبرد را ایستلو لپاره د برقی جنراتور په واسطه، د څو پرله پسی فصلونو لپاره د دیزلو د مصرف له پیسو څخه ځان وژغوری. په دی توګه د نورو ځمکو د کښت او په دښتو کي د کوکنارو د کرکیلی د پراختیا په لارکی یو عمده خنډ له منځه ځی . د سپین بولدک په بهادرزیو کې یو بزګر وویل چې د یوی ژوری څاه د جوړولو لپاره یی چې د لمر په انرژی کارکوی ۱.۲۵ ملیونه پاکستانی روپی (۱۲,۲۰۰ امریکایی دالر) مصرف کړی دی. تردي پخوا هغه په پخوانی دښته کې شپږ جریبه (۲. ۱هکتاره) ځمکه ترکښت لاندی لرله چې دهغې د مراقبت او دیزلو لپاره یی په کال کې ۱۸۰,۰۰۰ پاکستانی روپی (۱,۷۵۷ امریکایی ډالر) مصرفول[42]. د ۲۰۱۲/۲۰۱۳ کلونو په فصل کې نوموړی بزګر ۱۵ جریبه (دري هکتاره) ځمکه ترکښت لاندی راوسته. که څه هم د کندهار په سپین بولدک او د هلمند په بغرا کانال کې د لمر د انرژی ډیری تختی تر سترګو کیږی ، خو د لوړ قیمت له کبله ډیر کو چنی بزګران اوس هم د لمر د انرژی له تختو څخه استفاده نشی کولای. په هر حال که چیری قیمتونه را ټیټ هم شی، خو د ځمکی لاندی اوبوته د لاس موندنی ستونزه به په راتلونکی کې د کوکنارو تر کښت لاندی د نورو ځمکو راوستل له ستونزو سره مخامخ کړی. د پالیسی جوړونکوپه اند چې د مخدره توکو په هکله اندیښنه لری، دغه موضوع په افغانستان کې د مخدره موادو په هکله د ناټو او نړیوالی ټولنی د دخالت لپاره مشروعیت کمزوری کیدای شی .

[40] Farmers cover the plants they wish to keep with straw or sand for protection and then spray the field. The field is then left for ten days before being irrigated. Once irrigated, the sand or wheat straw is washed away and the farmer undertakes a less intensive weeding than would have otherwise been required, removing the dead crops and aerating the soil. Application rates are 0.5 litres per jerib.

[41] Farmers claim prices for panels have fallen by more than half over the last five years. Reports suggest there are a growing number of businesses now selling solar panels in Kandahar City, with talk of further dealerships in Farah City.

[42] Farmers in this area refer to diesel costs of PR 110/litre ($1.10), and using three litres of diesel per hour per jerib. They claim that it takes 2.5 hours to irrigate a jerib of land in the spring and four hours in the summer. With irrigation taking place every three to four days depending on levels of precipitation over the season, the costs are considered high.

# ۴. یوه واقعي هر اړخیزه موضوع

د کوکنارو په ضد مبارزه داسې یو څرګند او روښانه حقیقت دی چې هیڅ څوک نه غواړي دغه په هکله خبرې وکړي. ددغې موضوع سیاسی رهبری تل د نړیوالی ټولنې او د افغانستان د حکومت لپاره یوه ستونزه شمېرل کیږي. د مخدره توکو د کنټرول د څرنګوالی او په دی هکله د مختلفو اقداماتو په تیره بیا د موجود کښت د ویجاړولو په باره کی تل ډیروکلکو اختلافونو وجود درلودلای دی. په هرحال د انتقال له رانږدی کیدلو سره سم د نظر توافق لا هم لږ شوی، او په دې باره کې د راتلونکو اقداماتو او کرنلارو په اړه خبرې نه کیږي. انکشافی، نظامی او سیاسی جوړښتونو چې پخوایی په دی هکله چې د مخدره توکو د زیاتیدلو په مقابل کې باید څه وکړي، خبرې کولې، اوس چې باید دخپل ماموریت ماهیت تعریف کړي خپل کار محدود کړی او ددې لپاره د ۲۰۱۴ کال وروسته کرنلارو په چوکاټ کې د مخدره توکو په باره کې بحث کولو ته ډیره لږ علاقه ښکاروی. په دې توګه واقعیت دادی چې د کوکنارو په کرکیله کې زیاتوالی او د مخدره توکو د اقتصاد وده، دواړه احتراز نه منونکی ښکاری.

له یوی خوا، د ملی او بین المللی فعالینو له خوا د مخدره توکو کرکیلی کې د لنډ مهاله لږوالی لپاره لږ فشار، پرته له دی چې منفی شرایطو او باالقوه غبرګونونو ته یې پاملرنه وشی، صحیح کارده. د وروستی لسیزی په جریان کې په مشخصو سیمو کې په لنډ مهاله موده کې د کوکنارو د کښت لږوالی په زیاتیدونکی توګه د دولت د قدرت د ټینګښت ښکارندوی، او په ولایتونو او ولسوالیو کې د والیانو او ولسوالانو او حتی د نړیوالو د ملکی او نظامی مقامونو په ښې رهبری د لالت کوی. په نتیجه کې ویل کیدای شی چې د کوکنارو د کرکیلی د زیاتیدونکی تهدید په مقابل کې د قهری لنډ مهاله غبرګون یا په بل عبارت "تر هغو چې زه دلته یم دا کار نشی کولای" خواته میلان شتون لری.

د یادونی وړده چې د کوکنارو د ویجاړولو لپاره دی ډول فشار په ځینو ولسوالیو کې لکه د ننګرهار په شیرزاد ولسوالی کې په ۲۰۱۰ کال کې ښه پایله نه درلوده. په همدی توګه د ویجاړولو لپاره دغه غوښتنه د هلمند دولایت په ځینو سیمو لکه د بغرا د کانال په شمال کې چیرته چې نور بدیلونه او بله معیشتی چاره د ژوند لپاره شتون نه لری، ګټوره نه وه. د نتایجو دلاس ته راوړلو لپاره د فشار عملی کول، پرته له دې چې نورو پراخو پایلو ته پاملرنه وشی، په پخوانیو کلونو کې د هوا له لاری د دواشندلو له لاری د کوکنارو د محو کولو لپاره د وړاندیزونو سبب شو. ددی ترڅنګ، د مخدره توکو د لنډمهاله لږوالی موخی د انکشافی موسسو له خوا هڅې په تحلیلی کارونو کې د معیشت د بدیل په طرحو باندی د کلک انتقاد، پلوی کوی[۴۳].

په هرحال، د افغانستان د دولت او دهغه له استازوسره د مخدره توکو د کنترول په هکله د خبری کولو او د مخدره توکو په پدیدی باندی د بیخی سترګو پټولو ترمینځ ډیرلوی توپیر وجود لری. په خواشینی سره داسی معلومیږی چې پالیسی اوس پر همدغی لاری روانه ده. په اوږ دمهاله توګه، ګرانه ده چې تصور وشی چې پالیسی جوړونکی څنګه کولای شی په داسی یوی مسالی چې د افغانستان په سیاسی اقتصاد کې هم اوس او هم وروسته له انتقال څخه خورا مهم رول او برخه لري.

## اوسنی حالت، سیاسی او حقوقی مسایل

په عامه او خصوصی سکتور کې د فساد په هکله اندیښنی، د کابل اوواشنګټن ترمینځ ددوه اړخیز امنیتی قرارداد په امضآ کې ابهام، د متحده ایالاتو پر مرستو باندی د مالیی د اخیستلو پرسر اختلافونه، او له طالبانو سره د سولی او مصالحی په هکله مشاجری او بحثونه، او په نړیوالو رسنیو کې د هغو ستونزو انعکاس چې افغانستان ورسره مخامخ دی، ډیری مهمی دی. که چیری داستونزی حل هم شی، د افغانستان د دولت لپاره به د هغو مالی مرستو لاس ته راوړل چې د شیکاګو او توکیو په کنفرانسونو کې ورباندی بحث شوی، د مخدره توکو د تولید او سوداګری د زیاتوالی په صورت کې، څومره آسان کار وی؟ آیا په غرب کی به په ټولټاکونکی برخه اخیستونکو او سیاسیون دغو تمایلاتوته، چې په رسنیو کې به له اجتناب نه منونکو لیکنو او خبرو سره یو ځای وی، څرنګه غبرګون وښیی؟ سخته ده چې تصور وکړو چې په عامه افکارو کې د یو «مخدره توکوافغانستان» تصویرچې د « مخدره توکود پلویانو له خوا» اداره کیږی، څنګه کولای شی ډیری انکشافی مرستی په تیره بیاله هغو هیوادونو او ملتونو څخه ترلاسه کړی چې پخپله په مالی ستونزو اخته دی. دغه ستونزه په تیره بیا په انګلستان کې چې د مخدره موادو پرضد " لاربښوونکی ملت" او وروسته بیا « ګډونکوونکی ملت » دی اوله ۲۰۰۶ کال څخه راهیسی یی د هلمند په ولایت کې د مخدره توکو پرضد دنظامی هڅو لاربښوونه کړی ده، ډیره لویه او بحرانی ده.

که چیری نړیواله ټولنه د مخدره توکو د مسالی په هکله خپل دوام لرونکی تداخل او مرسته لږ کړی، نو داسی برېښي چې افغانی مقامات به د کوکنارو د کښت دزیاتوالی پړه اوملامتیا د مرسته کوونکو هیوادو په غاړه واچوی. د مرستو د لږوالی په فضا کې څو کاله پخوا، څو والیانو په چټکی سره وویل چې غربی مرسته کوونکو خپل تعهدات پوره نه کړل او خپلی " وعده شوی" انکشافی مرستی یی پرځای نه کړی. د کورنیو چارو وزارت له رسنیو سره په خپلو مصاحبو کې خبرداری ورکړه چې د نړیوالی ټولنې له ملاتړ او دهغوی له منابعو اوتجهیزاتو پرته حکومت ددې وس نه لری چې د مخدره توکو پرضد اجنداء په اغیزمنه توګه تعقیب کړی. دا ډول خبري به یوازی د نړیوالو مرسته کوونکو او د افغانستان د حکومت ترمینځ اړیکی لاهم خړی پړی کړی. په همدی ډول به غربی رای ورکوونکی او مقاله لیکونکی د خیانت او دوه مخې او د افغانستان د امنیتی قوتونو په لاس د غربی عسکرو د وژنو په هکله کیسی ولیکی. دغه تصور به په افغانستان کې د مخدره توکو د تولیدله زیاتوالی او په غربی هیوادونوکې له هیرویینو سره تړلو مړینو سره نورهم پراخ شی.

په همدی توګه په افغانستان کې له مخدره توکو سره تړلی یولړ حقوقی پایلې هم شتون لری. د امریکی د قوانینو پر بنسټ، افغانستان د مخدره توکو د غیر قانونی تولید یو عمده هیواد شمیرل کیږی. لکه د مخدره توکو د تولید اوترانزیت نورو هیوادونو په شان، افغانستان هم د متحده ایالتونو د حکومت له خوا د کلنی ارزونې تابع دی[۴۴] هغه هیوادونه چې د نوموړی ارزونې پربنسټ " د تیرشوو ۱۲ میاشتو په جریان کې په ریښتنو هڅو کې بریالی ونه شمیرل شی او د مخدره توکو په له مینځه وړلوکې

[۴۳] UNODC, "Thematic Evaluation of UNODC Alternative Development Initiatives: Report by the Independent Evaluation Unit" (UNODC: Vienna, 2005), 2.

[۴۴] Bureau for International Narcotics and Law Enforcement Affairs, United States Department of State, "International Narcotics Control Strategy Report, Volume 1: Drug and Chemical Control" (Washington, DC: INL, 2013), 13, http://www.state. gov/documents/organization/204265.pdf (accessed 8 August 2013).

د متحده ایالاتو د قانون سره سم چلند نه کوی"[۴۵] د نوموړی هیواد د دوه اړخیزو انکشافی کلنیو مرستو ۵۰ سلنه له لاسه ورکوی. دغه هیوادونه په عین حال کې د څو اړخیزو مالی مؤسسو له پورونوڅخه بی برخی کیږی، مګر داچې د متحده ایالاتو جمهور رییس د ملی ګټو په خاطر له دغی ادعا څخه تیرشی او کانګرس ورسره موافقه وکړی[۴۶]. په عین حال کې له هغو انفرادی اشخاصو سره د خارجی مرستو په هکله قانونی محدودیتونه وجود لری چې په مستقیمه توګه د مخدره توکو په سوداګری کې لاس لری او یا " له نورو سره په غیر قانونی سوداګری کې د مرسته کوونکی، لمسونکی، دسیسه کوونکی اوټګی ګوونکی په توګه ګډون ولری"[۴۷] د مخدره توکو په ستونزی سترګی پټول په هیڅ توګه د جاری قانون د موادو د تطبیق مانا نه ورکوی، او افغانستان ته د مرستو په هکله د امریکی د عامه شتو او پیسو په ضایع کولو کې د کانګرس اندیښنی زیاتوی[۴۸]، او د نړیوال بانک اونورو مرسته کوونکو موسسو له خوا د بهرنیو مرستو له لګښت څخه پر سیاسی ملاتړ اغیز ه کوی.

د پورتنیو موضوعاتو له جدیت سره سره، کیدای شی چې نوموړی ستونزی تر یوي کچې اداره او کنترول شی، که چیری په غرب کې عامه افکار له افغانستان سره د مرستو په هکله قانع وی. ترټولو د ډیر اهمیت وړ، هغه واقعی عملی ستونزی دی چې د افغانستان د راتلونکی انکشاف اصول او لومړیتوبونه، امنیت او حکومتداری به ورسره مخامخ وی، که چیری د مخدره توکو په حقایقو سترګی پټی شی. د ښه انکشاف او پرمختیا اساسی معیارونه د اجتماعی – اقتصادی او سیاسی چاپیریال پیژندنه ده چې دهغه په چوکاټ کې کړنلاری او اقدامات عملی کیږی. دلته دا خبره هم د اهمیت وړده چې مختلف فعالین په دی هکله کوم غبرګون ښیی او د هر عمل اواقدام وروستی پایلی به کومی وی. نړیوالی ټولنی د نوموړی کار دملاتړ لپاره یو لړ اقدامات لکه د منطقی چوکاټ ارزونه، د ګډون کوونکو څیړنه، د مخالفتونو تحلیل، او د ډول ډول تخنیکی ارزښتونو د پوره کولو لپاره د اړتیاوو تجزیه، په کار اچولی دی. په افغانستان غوندی یو هیواد کې، چیری چې د مخدره توکو سوداګری او تولید فزیکی، سیاسی او اقتصادی جوړښت ته شکل ورکوی د مسئلې واقعی درک او پیژندنه په یقین سره د عمومی څیړنی لپاره ډیره اساسی برخه ګڼل کیږی.

## د مخدره توکو تر اغیزی لاندی چاپیریال کې انکشاف

انکشافی مؤسسی په حقه اوربنتیا سره وایی چې د مخدره توکو پرضد کومه دنده او ماموریت په غاړه نه لری. خو په هرصورت د نوموړو مؤسسو کارونه او اقدامات ( یانه اقدامات) کولای شی پر هغوهڅو اغیز ولری چې له کلیوالو سره د معیشیت لپاره په مخدره توکو باندی له اتکاء څخه د خلاصون او همدا ډول د فقرپه لړوالی کې مرسته وکړی. د هلمند په ولایت کې د غذایی زون کړنلاره د یو انکشافی پلان د نه بریالیتوب ډیر ښه مثال دی چې دهغه په نتیجه کې د کوکنارو کرکیله د بغرا د کانال شمال سیمو ته پراخه شوه او د مخدره توکو ستونزه یی په نوموړی ولایت کې تشدید کړه او په عین حال کې یی په هلمند کې د بی ځمکو بزګرانو ځینی ډلی لا زیان منونکی کړی. هغه بزګران چې د سهمکارو اجاره دارانو په توګه په هلمند کی پاته شول –او په همدی توګه هغه بزګران چې د دښتو په نوو ځمکو کی په کار بوخت شول– دا ټول د سختی خواری او غریبی نښی نښانی په ګوته کوی چې په ښکاره د هغو لپاره ډیر لږ کار شوی دی. د بغرا د کانال په شمال کې میشت بزګران اوس د طالبانو خورا ټینګ ملاتړی دی، ژوند یی په کوکنارړو پوری ډیر تړلی دی، او په هغو وختونو کې چې کرکیله بریالی نه وی له سختو اقتصادی ستونزو سره مخامخ دی. په داسی حال کې چې نوموړی سیاسی او اقتصادی اغیزی د غذایی زون د ابتکار مقصد او غایه نه وه ، خو کولای شو هغه د غذایی زون غیر قصدی پایلی وګڼو. که چیری دغه بزګران بیرته خپلو پخوانیو سیمو ته راستانه هم شی په دغه ولایت کې د بهرنیو قوتونو له خروج څخه وروسته به دولایت د مقامونو لپاره ډول ډول انکشافی، دحکومت کولو او امنیتی ستونزی رامینځ ته کړی.

په همدی توګه، مخدره توکی د افغانستان د حکومت د ملی لومړیتوبونو د پروګرامونو (NPPs) ځینو برخو، په تیره بیا د بنسټیزو جوړښتونو پروګرامونوته ستونزی جوړوی. د مثال په ډول، د هلمند په وادی کې د نوروځمکو د خړوبولو لپاره د انرژی او اوبو د وزارت[۴۹] د لویو اوبولګولو پروژو ترڅنګ د ملی پیوستون پروګرام او د اوبو او طبیعی زیرمو د انکشاف د پروګرام له خوا کوچنی پروژی هم تطبیق شوی دی. که چیری دغه پروژی په داسی سیموکی تطبیق شی چې کمزوری مارکیت او بی ټینګاره امنیت ولری، او د حاصلاتو او عوایدو د تنوع په برخه کې هڅی ترسره نه شی، نو ددې خطر شته چې د کوکنارو د کرنې لپاره ځمکی ډیری پراخه شی. د دې ترڅنګ ددې امکان شته چې د سیمی د هغو قدرت لرونکو کسانو په لاس کې، چې د مخدره توکو په سوداګری کې ښکیل او له شخړو څخه ګټه پورته کوی، د سیاسی او اقتصادی قوت ټینګښت په نتیجه کې انکشافی پروژی کمزوری شی.

کیدای شی چې د سړکونو د جوړولو لپاره په تیره بیا په هغو ځایونو کې چې پروژې د نورو انکشافی موسسو له خوا نه همغږی کیږی، له ورته ستونزو سره مخامخ شی. د مثال په دول، د ننګرهار د سپین غره په لمنوکې نظامی او پرمختیایی موسسو سرک جوړولوته لومړیتوب ورکړی ده. داسی بریښی چې د سړک په جوړولو کې نوموړې هڅې به ښو بازارونو ته د لاس موندنی لپاره کرنیز تنوع را مینځ ته کړی. په نتیجه کې، په داسی حال کې چې د لارو جوړیدل د کوکنارو پر تولید له بندیزونه سره یو ځای او موازی مخته ولاړی، هیڅ ډول تنوع یی په عوایدو کې را مینځ ته نه کړ. د انتقال او ترانسپورت لپاره د کرنیزو حاصلاتو نه شتون د کلیوالو ټولنو په ذهن کې دا تصور زیات کړ چې دا سړکونه د آسانتیاوو لپاره نه دی جوړ شوی بلکې په عمومی توګه د نړیوال حضور لپاره د توطیی تیوری وګڼل شوه[۵۰]. ځینی نوموړی لارې اوس د وسله والو مخالفینو ترکنترول لاندی دی چې د طالبانو پاټکونه لټون ځایونه هلته موقعیت لری او د شډل بازارته د مخدره توکو د انتقال لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږی.

نوموړی مثالونه ددې مانا نه لری چې ګویا د اوبو لګولو، سړکونو او نورو بنسټیزو جوړښتونو پروژی باید جوړی نه شی. برخلاف د نوموړو

[۴۵] "International Narcotics Control Strategy Report."

[۴۶] "International Narcotics Control Strategy Report."

[۴۷] See Committee on International Relations, US House of Representatives and Committee on Foreign Relations, US Senate, "Legislation on Foreign Relations Through 2002, Volume I-A of Volumes I-A and I-B, Current Legislation and Related Executive Orders, Foreign Assistance Act 1961, Section 490 (1) and (2)," 189-192, http://transition.usaid.gov/policy/ads/faa. pdf (accessed 8 August 2013).

[۴۸] FAA 1961, Section 487 (a) 2, 183.

[۴۹] See Opening Statement of Chairman Jason Chaffetz, Subcommittee on National Security "U.S. Direct Assistance in Afghanistan: Ensuring Transparency and Accountability" February 13, 2013, http://oversight.house.gov/wp-content/ uploads/2013/02/Opening-Statement-of-Chairman-Jason- Chaffetz-2-13-13.pdf (accessed 8 August 2013); Opening Statement of Chairman Menendez, United States Senate Committee on Foreign Relations Hearing, "Assessing the Transition in Afghanistan," July 11, 2013, http://www.foreign. senate.gov/imo/media/doc/Menendez%20Statement%20Assessing%20the%20Transition%20in%20Afghanistan%20July%2011%202013.pdf (accessed 8 August 2013); and John Sopko (SIGAR), Testimony Before the Committee on Oversight and Government Reform, "Challenges affecting US Foreign Assistance to Afghanistan," 10 April 2013,http://oversight.house.gov/wp-/uploads/2013/04/Sopko-Testimony-Final.pdf (accessedAugust 8 2013).

[۵۰] Shahai Murtazai, "Pakistan to design Farah river dam," Tolo News, 24 February 2013. http://www.tolonews.com/en/afghanistan/9557-pakistani-firm-to-design-farah-river-dam (accessed 8 August 2013).

مثالونو څخه منظور دادی چې د نوو انکشافي او مخدره توکو پرضد د پروژو ارادي او غير ارادي پايلوته پاملرنه وشي. د نمونې په توګه، د لاروجوړول په داسې سيموکې، چيرې چې بازارونه محدود او د دولت نفوذ لږدی، په هغو ځايونوکې د سړک د جوړولو په پرتله چيرته چې کرکيله، د عايداتو تنوع، بازارونه او د دولت او ټولنې ترمينځ اړيکې شته ، پوره توپيرلري. او بالاخره چيرې چې نوښتونه او د نوو پروژو مينځ ته راتګ د مخدره توکو د توليد او سوداګرۍ د ډيريدلو لامل ګرځي، اړينه ده چې لازم احتياط په نظرکې ونيول شي.

د کوکنارو د کښت په اړه، پاليسي بايد هرومرو بنسټيزې پوښتنې لکه «تاوان مه رسوه» ( مثلاً په دې اړه اطمينان چې پروګرامونه يا پروژې ناپامه د مخدره توکو غير قانوني او غير مشروع کرکيله، سوداګرۍ او استعمال تشويق نه کړي) په نظرکې ونيسي. که چيرې يوه پروژه په دقت سره پلان او تطبيق شي، نو لويه هيله وجود لري چې د مخدره توکو پرضد او د انکشافي نتيجو په اخيستلوکې به مثبته برخه واخلي. د دې لپاره اړينه ده چې: د کوکنارو د کرلو په هغه څو اړخيزه رول وپوهيږو چې په يوه مشخصه جغرافيايي سيمه کې يې په کليوالي ژوند کې لوبوی او څرنګه يې د اجتماعي اقتصادي ګروپونو له خوا توپيرکيږي؛ بايد تشخيص کړو چې څرنګه په يوه مشخصه ټولنه کې وړونکي او بايلونکي را مينځ ته کوي؛ او بالاخره بايد ارزونه وکړو چې يو پلان شوی نوښت څه ډول د نفوسو د مختلفو ګروپونو په ټوليزې سلامتي او همدا ډول د کوکنارو پرکرکيله اغيزه کوي.

بايد وويل شي چې داسې يو جريان پرمخدره توکو باندې د بالقوه اغيزلرونکو پاليسيو او پروګرامونو د انکشاف ايجاب کوي. او په پای کې لازمې برېښي چې بايد د انکشافي پروګرامونو او پروژو تمرکز داسې عيار شي چې په ستونزې باندې بالقوه تاثير واچوي او داسې قدمونه اوچت کړي چې د فعاليتونو په جريان کې خپلې مثبتې اغيزې زياتې ، او د ملي، ولايتي او ولسواليو په کچه همغږۍ او بشپړتيايي اقدامات ګړندي کړي.

## د مخدره توکو په چاپېريال کې سياست

په افغانستان کې د مخدره توکو په هکله د سياسي بحثونوډيره برخه د طالبانو په ونډه تمرکزلري چې د کوکنارو کښت تشويقوي، له هغو څخه ماليه اخلي، او دهغو له سوداګرۍ څخه ملاتړکوي، ترڅو خپل سياسي مقصدونه او په خاوره باندې دخپل واک پراخول او يا مالي ګټې لاس ته راوړي. خو واقعيتونه ډير پيچلي دي، او په دې برخه کې مختلف فعالين چې د دولتي جوړښتونو په دننه او له هغو څخه بهر وجود لري، دخيل دي چې ټول يې د مخدره توکو په تجارت کې د خپلو مادي ګټو، او سياسي ملاتړکوونکو په لټه کې دي.

داسې مالومېږي چې له مخدره توکو څخه لاس ته راغلې پيسې به د راتلونکي کال د جمهوري رياست په ټولټاکنوکې لوی رول او نقش ولري. د افغانستان په « سياسي بازار»[51] کې حتی لنډ مهاله وفاداري او ملاتړ په پيسو لاس ته راځي. دا موضوع قدرت او ملاتړو شبکو ته ضرورت لري، چې دواړه په آسانتيا سره د مخدره توکو څخه د لاس ته راغلو ګټو له لارې په پيسو اخيستل کيدای شي. په دې توګه، داسې ښکاري چې دموکراسي او مخدره توکي به له انتقال وروسته افغانستان کې غاړه په غاړه د بسترې ملګرې وي، چې د سياسي نظام او دهغه د چارواکو د فساد لپاره ښکاره لامل شميرل کيدای شي.

دولتي فعالين په عين حال کې له محلي متنفذينو سره سياسي سازشونوته اړ دي ترڅو د هغوی وفاداري، په مشخصو سيموکې نفوذ او په راتلونکو جمهوري رياست او پارلماني ټولټاکنو کې رايې تر لاسه کړي. داسې معلومېږي چې په ځينو سيمو کې به د کوکنارو کښت ته بيا راګرځيدنه د سياسي پټې او ښکاره راکړې ورکړې او معاملې لپاره يوه وسيله وي. هغه کسان چې د کوکنارو کرکيلې څخه ګټه پورته کوي په سيمې کې د نفوذ خاوندان او ټوپک وال دي چې نه يوازې د محلي سيمو د نفوس ملاتړ په لاس کې لري بلکې د داسې مالي وسيلو او منابعو خاوندان دي چې کولای شي دولتي مرکزي مقامونو ته ستونزې ايجاد کړي. له کابل څخه د مرستو د جريان لږوالی او په ولايتونوکې د مخدره توکو د کرکيلې ډيروالی به له مرکز څخه تيښته چې همدا اوس په افغانستان کې وجود لري لا زياته کړي.

داسې څرګنديږي چې د کوکنارو د کښت له مينځه وړل به د ټولټاکنو په کال کې لږ لومړيتوب ولري. د کوکنارو د کرکيلې په سيمو کې امنيتي وضعې ته په پاملرنې سره د رای ورکولو لپاره د کليوالو خلکو راتګ ډير ستونزمن کار برېښي. په دې توګه د خلکو څخه د رايو اخيستل په داسې حال کې چې د هغوی د کوکنارو کښت ويجاړيږي دې ته ورته ده چې په امريکې کې د ټولټاکنو کمپاين تر دې شعار لاندې ترسره شي چې « ډيره ماليه ورکړئ»! که چيرې حکومت هڅه وکړي چې واقعاً په نوموړې کښت بنديز ولګوي، نو دحکومت ضد قوتونه به يوازني ګټونکي وي.

## د مخدره توکو په چاپېريال کې امنيت

د مخدره توکو کرکيله او سوداګرۍ د افغانستان د ملي امنيتي قوتونو (ANSF) د سپيڅلتوب اوصداقت لپاره لوی ګواښ شميرل کيږي. په دې هکله ښکاره خطر د ځانګړو افرادو او د افغان د مسلحو قواوو د واحدونو په فساد ککړيدل دي چې د مخدره توکو په کرکيله او تجارت کې خپله برخه ترلاسه کړي او حتی نيغ په نيغه په دغه تجارت کې دخيل شي. دا موضوع به پخپل وار د دولت په باره کې په عامه افکارو او تصور بده اغيزه وکړي. په عين حال کې دا پوښتنه هم وجود لري چې د افغان ملي امنيتي قوتونه به څنګه وکولای شي د دولت لپاره هغه سيمې خوندي کړي چې په هغو کې د مخدره توکو پرضد پاليسي د محلي متنفذينو او محلي خلکو له ګټو سره ټکرکوي او کيدای شي چې تاو تريخوالی او مقاومت را مينځ ته کړي.

د افغان ملي امنيتي قوتونو افراد اوس د مخدره توکو پرضد هڅو کې د خيل دي او په هغو سيموکې چې به ژور شتون ولري، چيرې چې د ترياکو او مخدره توکو د زياتوالي امکانات ليدل کيږي. د مثال په توګه، د هلمند په مارجه او نادعلي سيمو کې محلي پوليس په فعاله توګه د کوکنارو د کرکيلې څخه ممانعت کوي. په ځينو مواردو کې د محلي پوليسو قوماندانان له خپلو ټاکل شوو سيمو څخه خپلې هڅې نورو سيمو لکه د بغرا د کانال دښتو ته پراخوي تر څو هلته هم د کوکنارو د کښت ممانعت وکړي. البته دغه کار تل په شفافيت نه ترسره کيږي ځکه چې د محلي پوليسو پرسونل په ځينو داسې سيموکې چې له محلي خلکو سره اړيکې نه لري پيسې اخلي. د کندهار د ولايت په ژړۍ او پنجوايي ولسواليوکې، محلي پوليسو د کوکنارو پرضد مبارزې کې له هغو بزګرانوڅخه چې د کوکنارو پرکښت ټينګار کوي په پيسو اخيستلو بوخت دی[52].

[51] The same responses can be heard in Zahre District in areas such as Pashmul and Howz-i Madad, where the road construction is typically viewed in a particularly negative light due to the loss of significant amounts of agricultural land, including vineyards (fieldwork in Kandahar, December 2012). In Nangarhar, roads into rural areas are increasingly seen as the means by which Afghan and international military forces can subjugate the local population. See Mansfield, “All Bets are Off!”

[52] For a description of how the “political marketplace” works, see Alex de Waal, “Mission without end? Peacekeeping in the African political marketplace,” International Affairs 85, no.

برعکس، د هلمند په ولایت کې ځینی محلی پولیس نه یوازې د مخدره توکو پرضد د کرنلارو او پروگرامونو د تطبیق لیوالتیا نه لری، بلکې د دې توکو د کښت تشویق او لږترلږه آسیانتیا هم برابروی. د نهر سراج په مارگیر سیمه کې بزگران وایی چې د ملی او محلی پولیسو قوماندانانو د ۲۰۱۲ /۲۰۱۳ کلونو په فصل کې د محلی خلکو له خوا د کوکنارو د کرکیلی ملاترکړی دی[۵۳]. په همدې توگه داسی ریپوټونه هم شته چې د پولیسو قوماندانان له خلکو څخه د مالیې په توگه د دوه خورده (۵. ۱۱۲ گرامه) تریاکو د اخیستلو په لټه کې دی چې پخوا طالبانو په نومړو سیمو کې د خپل حاکمیت په وخت کې د هر جریب ځمکی د تریاکو له حاصلاتو څخه اخیستل. دخلکو په گمان په مالگیر کې ولایتی چارواکی له متحدو بارکزیانو سره مواجه کیدلو سره لږ علاقه لری او ویره لری چې له کوکنارو څخه د سخت ممانعت[۵۴] په صورت کې به د هغوی ملاتړ له لاسه ورکړی. د گرشک ښارته نږدی له سری کلا څخه راپورونه څرگندوی چې بزگرانو محلی او ملی پولیسو ته نغدی پیسی ورکړی تر څو د هغوی د کوکنارو له کښتونو څخه ساتنه وکړی. په عین حال کی، که څه هم طالبان په فزیکی توگه په نومړو سیمو کی شتون نه لری، خود کلی نفوذ لرونکو ته یی خبرورکړی چی د تریاکو له حاصل څخه خپلی نغدی پیسی غواړی.

داسی معلولومیږی چې د لوړ ارزښت لرونکو توکو لکه د کوکنارو د کښت پرسر رقابت به د انتقال وروسته افغانستان په ځینو برخو کې هومره پراخ شی چې په نومړو سیمو کې د مخدره توکو په تجارت کی گډون به د ژوند او معیشیت لپاره په یوی وسیلی بدل شی. د مثال په توگه، که چیری د محلی پولیسو یو قوماندان ونه شی کړای پخپله ساحه کې خپل راټلونکی عایدات له محلی خلکو څخه هغوی ته د کوکنارو د کرکیلی د اجازه ورکولو په بدل کی ترلاسه کړی نو د وسله والو مخالفو گروپونو، یا حتی دننه په محلی پولیسو کې به د خپلو رقیبانو په ذریعه له صحنی څخه وایستل شی.

حتی د افغانستان ملی اردو چې د افغان د ملی امنیتی قوتونو په مینځ کې ترټولو د اعتماد وړگڼل کیږی – کله چې د حکومت هڅی د کوکنارو د کرکیلی په لږوالی کی مطرح وی، اړ دی چې ځان ته د لومړیتوبونو په هکله سوچ وکړی. د کوکنارو د کښت د کموالی لپاره په خلکو باندی فشار راوستل او په عین حال کې د یاغیانو پرضد د هغوی ملاتړ غوښتل ، په تیره بیا په هغو سیموکی چې د ژوند بل بدیل شتون نه لری، ډیر ستونزمن کاردی. په واقعیت کې ملی اردو د امنیتی قوتونو هغه برخه ده چې د کوکنارو په له مینځه وړلو کې ډیره لږ برخه او علاقه لری. لکه چې پورته د ننگرهار ولایت د خوگیانیو د ولسوالی په هکله خبری وشوی، که چیری د ملی اردو قوماندانان غواړی په نا امنه سیمو کې له شور شیانو سره بریالی مبارزه وکړی، نو له محلی خلکو سره د تریاکو د تولید په هکله یو ډول تعامل او گذاری ته اړ دی[۵۵].

بله ستونزه چې امنیتی سکتور د مخدره توکو په هکله ورسره مخامخ ده نومړی سکتور ته جلب او جذب او په هغه کې د قومونو تر مینځ

1 (2009): 99–113.

[53] David Mansfield, "'Taxation' in Central Helmand andKandahar," paper for the UK Government, March 2013.

[54] As one farmer put it "we accept the government in this area; we don't kill government people, we don't put mines in the road but we will grow poppy" (fieldwork in Malgir, April/ May 2013).

[55] At the time of fieldwork this tax had not yet been collected but farmers reported that the population had been informed that they would need to pay and claimed that a list of farmers and the payments due had been prepared by the mirab (water master). It was also claimed that the ALP commander and many of his soldiers had also cultivated opium poppy. Fieldwork supports this claim, with four out of the five households with members in the ANP or ALP growing opium poppy in the 2012/13 growing season.

انډول دی. د مثال په توگه، اټکل کیږی چې د افغانستان په ملی امنیتی قوتونو کی له ټولو پښتنو څخه یوه دریمه برخه د ننگرهار له ولایت څخه ده[۵۶]. ساحوی ژور تحلیلونه څرگندوی چې د افغان په ملی اردو کی د ننگرهاریانو اکثریت له جنوبی ولسوالیو څخه دی چې د پاکستان په گاونډ کی واقع دی، او ددی علت په نومړو سیمو کې د اقتصادی ژوند خرابوالی دی چې په کوکنارو کې له بندیز څخه را مینځ ته شوی[۵۷]. نومړو او نورو ولسوالیوته د کوکنارو د کرکیلی بیا راتگ او رواجیدل به له دی سیمو څخه ملی اردو ته د جذب او جلب کچه لږ کړی او په ملی اردو کې به د سرتیرو پاتی کیدل له ستونزوسره مخامخ کړی. که څه هم په سپین غر کې یوی ارزونې څرگنده کړی ده چې داسی کورنی شته چې غړی یی په امنیتی قوتونوکی غړیتوب لری، خو په خپلو ځمکو کی د کوکنارو په کرکیله هم بوخت دی[۵۸].

په هرحال، عمده امنیتی ستونزه د کوکنارو د کښت او د حکومت د وسله والو مخالفینو تر مینځ زیاتیدنکی نږدیوالی ده. د مثال په توگه، د سپین غر په لمنوکې حکومت یا مخالفو وسله والو ته وفاداری ډیر سیالیت لری، داسی مثالونه شته چې د کورنیو غړی په ملی امنیتی قوتونو کی شامل دی خو نږدی او لیری خپلوان یی له طالبانو سره یوځای شوی دی. پخپله نومړی کورنۍ په محلی جوماتونو کې شورشیانو ته له ۳،۰۰۰ تر ۵،۰۰۰ پاکستانیو روپیو (۲۹ تر ۵۸ امریکایی ډالر) بسپنه ورکوی. په لوړو ولسوالیو کې د کلینیکونو، مکتبونو او حکومت کارکوونکی د مسلحو مخالفینو له گروپونو (ځینی کسان د هغوی غړیتوب هم لری) او د کوکنارو د خورا پراخ کښت سره همزیستی لری او له هغوسره نږدی او یو ځای ژوند کوی. د بلخ په ولایت کې وفاداری ورته (مشابه) سیالیت لری. د ریپوټونو پراساس د استوگنی ځینی سیمی د محلی پولیسو او د حکومت ضد مخالفینو ترمینځ موقعیت لری او د ځانگړو افرادو نږدیوالی په کورنی او قومی اړیکو ولاړ دی.

په دی وختونو کی د ننگرهار په ځینو برخوکې طالبانو له ملی امنیتی قوتونو څخه د افرادو د را ایستلو غوښتنی له کورنیو څخه لږ کړی دی ځکه چې د خلکو د شدید غبرگون له ویری نه غواړی پرخلکو او کورنیو ډیر فشار راوړی. که چیری طالبان غواړی خپل موقف په دې سیموکې ټینگ کړی اړین دی چې د خلکو د کوکنارو په کښت او دا چې د هغوی ځینی غړی په ملی اردو کې کارکوی، غرض و نلری. دا به په ملی اردو کې د پښتنو په شمیر کې د انډول لپاره زیاتوالی او د قومی تناسب په اوسنی انډول په بدلون باندی، اغیزه ولری. د هیواد په نورو برخو کې هم د کوکنارو د کښت بیا رواجیدل او زیاتوالی کولای شی چې له امنیتی قوتونو سره د اشخاصو د یو ځای کیدلو اقتصادی اړتیا لږ کړی، او په دی توگه به د جلب او جذب کچه کمزوری شی. دا موضوع په تیره بیا په بدخشان کې چیری چې په ملی امنیتی قوتونو کې دخلکو شاملیدل د معیشیت او ژوند لپاره یوه استراتژی ده ډیره محسوسه ده، په تیره بیا چې په دې ولایت کې د استخدام فرصتونه خورا ډیر لږ دی.

[56] Farmers report that the eradication campaign in the2012/13 growing season was concentrated within one kilometre of the road running alongside the canal. Between the river and the village, the poppy remained untouched.

[57] Ray Rivera, "Afghan army attracts few where fear reigns,"The New York Times, 6 September 2011

[58] "Enlisting in the Afghan National Army (ANA) has become the primary risk mitigation strategy for those in the districts of Shinwar, Achin and Khogiani. For example, in the district of Achin more than half of those interviewed had members of their household in the ANA; in Shinwar it was over a third; and in Khogiani one quarter of respondents had members of their household in the ANA...It is also notable that in the districts of Kama and Surkhrud—areas that are less exposed to risk and where households have largely succeeded in diversifying on- farm and non-farm income—none of those interviewed in 2010 reported having members of their household in either the ANA or the ANP." David Mansfield, "The Ban on Opium Production across Nangarhar—A Risk Too Far?" International Journal of Environmental Studies 68, no. 3 (2011): 381-395.

# ۵. کومې خوا ته تګ؟

مخدره توکې په افغانستان کې له څه د پاسه یوی لسیزی را هیسی یوه « هر اړخیزه ستونزه» ده. دغې موضوع د نړیوالو کنفرانسونو په ادبیاتو کې، د افغانستان د ملی پرمختیا د استراتژۍ په مختلفو سندونو او د غربې هیوادو په پالیسیو کې انعکاس موندلی دی. خو سره له دی ډیر لږ شواهد وجود لری چې د مخدره توکو ستونزه په واقعی ډول په لویو انکشافی، حکومتداری او امنیتی پلانونو او پروژو او د هغوی په تطبیق کې، شامله وی.

په عمل کې، د مخدره توکو د ستونزی په هکله په پراخه توګه د ټولو هغو لویو پالیسی جوړونکو ترمینځ غلطه پوهه او سوء تفاهم شته چې له نغښتو او پیچلو ټولنیزو، اقتصادی او سیاسی پدیدو او واقعیتونو څخه چې په مخدره توکو اغیزه لری، لیری ده. په حقیقت کې د پالیسی په سطحه کې د افغانستان د کلیوال ژوند واقعیتونو په هکله بحث او خبری کول « د خوشی خبرو» په توګه ګڼل کیږی. په خواشینی سره چې لا اوس هم یوه خامه ارزونه شته چې ګواکي یوه جادویی چاره وجود لري چې لنډ مهاله او سمدلاسه پایله به لاس ته راوړی، او دا ډول تصور د مخدره توکو په هکله بحث کې تسلط لری: « ولی مونږ د کوکنارو کښتونه فقط په پیسو راونه نیسو؟»، « د کوکنارو کرکیله ولی فقط قانونی نه کړو؟»، « ولی مونږ ضمانت نه ورکوو چې فقط غنم په لوړه بیه رانیسو؟» او البته « ولی مونږ د کوکنارو کښتونه فقط ویجاړنه کړو؟». دغه د « فقط» د ټکی استعمال، د افغانستان د پالیسی په مختلفو اړخونو کې – چې د مخدره توکو ستونزه پرځای پریږدی – خورا بیځایه ښکاری.

حقیقت دادی چې د « فقط» کلمه په افغانستان کې (او په واقعیت کې په هر بل ځای کې) د تریاکو د تولید پرځای کوم بدیل نه ده. په دی هیواد کې به د تریاکو تولید په اطمینان سره لږ ترلږه تریوه نسله پوری ادامه ولری، مګر داچې په نړی کې د تریاکو په تقاضا کې یو ډیر ستر لږوالی رامینځ ته شی. د ټول هیواد په کچه د تریاکو په تولید کې لږوالی یوازی د یوه ډول لوړ قیمت لرونکی محصول د ترویج، د غنمو د حاصلاتو د زیاتوالی په لارکی هڅې، او د کرکیلې په ویجاړولوکی کیمیاوی او بیولوژیکی موادو د استعمال له لاری، لاس ته نه راځی. په افغانستان کې د تریاکو د تولید د مخنیوی لپاره کوم خاص تکنیک وجود نه لری، که څه هم د لرلو لپاره یی سخته اړتیا موجوده ده.

د کوکنارو په کرکیله کې دوامداره لږوالی په مختلفو سیموکی فرق کوی. د ولایتونو د مرکزونو له شا او خوا سیمو پرته چې ښه ټولنیز – اقتصادی او سیاسی وضعیت لری، په نورو سیموکې جریان ډیر ورو دی او بریالیتوبونه په سختی سره لاس ته راځي. ددې موضوع علت په مشخصه سیمه کې د حکومت کولو د سمونو د هڅو او امنیت ترمینځ د متقابلو اغیزو نتیجه ده، نه د ځانګړو خاصو اقدامونو پایله چې د مخدره توکو د کنترول لپاره تر سره کیږی. کله چې اقتصادي حالت او د سیاسي فعالینوصفونه بدلون ومومي ښایی په یوې سیمې کې ددغه کښت کمیدل په بله سیمه کی د زیاتوالی لامل شی. دغه په یوې سیمه کې کمیدل او په بله کې زیاتوالي ته د بالون اغیزه *"balloon effect"* وایي (دغه اصطلاح معمولاً د متحده ایالاتو د مخدره توکو پر پالیسی باندی د نیوکې لپاره استعمالیږی – ژباړونکی). په عین حال کې د متراکم لږوالی د تګ کرښی وړاند لید وجود نه لری، دواړه، هم خلک او هم بازار (مارکیت) د نوو حقایقو په مقابل کې د خارجی تداخل او د اقتصادی، ټولنیزو او سیاسی ګټو د تعدیل نتیجی دی. مونږ کولای شو دغه جریان په ولایاتوکی چیری چې په څو ورستیو کلونو کې د کوکنارو کرکیلې کموالی موندلی او چیری چې دتریاکو په تولید کی لږوالی په مختلفو سیموکې د مختلفو اجتماعی اقتصادی ګروپونو له خوا په مختلفو وختونو کې اغیزه لرلي ده.

مخدره توکی به په راتلونکوکلونوکې د افغانستان په سیاسی اقتصاد کې ډیر لوی رول ولری. دغه واقعیت ته په پاملرنی سره اړینه ده چې پر انتقال او وریپسی « بدلون»[۵۹] باندی د مخدره توکو د اقتصاد پراغیزه باندی پوه شو او هغه لاری تشخیص کړو چی د تهدیدونو او خطرونو ښه اداره او مدیریت وکړی. داسی هڅی باید هرومرو د کرکیلی د کچې له ساده تحلیل څخه لوړی ولاړی شی او په دی هکله سوچ وشی چې مخدره توکی څرنګه په لیری سیمو کې سیاسی اقتصاد او په کابل کې سیاست ته شکل ورکوی. ښایی په دې اړه ځینی کسان هغو هڅو ته اشاره وکړی چې د افغانستان په انکشافی پلانونو کې د « مخدره توکو په محیط کی انکشاف» یا « له مخدره توکو سره د مبارزی د عمومیت» په توګه و پیژني. ځینی نور بیا نوموړی موضوعګانی د « ښه انکشاف» یا په ساده توګه د خپلودندو د ښې اجراء نښې ګڼي. خو په هریو صورت کې د مخدره توکو په ستونزه باید سترګې پټی نشی.

د مخدره توکو په ستونزه دښه پوهیدلو لپاره پخوانی هڅې او دهغوی په پراخو اغیزو پوهیدل د ډول ډول دلیلونو له مخی د قناعت وړ نه وی(دوهم جدول وګوری). په نړیوالو موسسو او ټولنه کی او د افغانستان په حکومت کې د قناعت وړ لارښوونی نه شتون محسوس وو. په همدی توګه مخدره توکو ته د یوی جلا او انتزاعی موضوع په شان کتل – چې ډیری بودجی هم ورته اختصاص شوی دی– د مختلفو اړوندو سکتورونو او جوړښتونو ترمینځ همکاری او همغږی ایجاد نه کړه. د پوهی لویه خلا، د کلنی لږوالی لپاره سیاسی فشارونه، او په اړونده جوړښتونوکې د کارکوونکو ژر ژر بدلون، ددی سبب شول چې لنډمهاله او د حل ساده لاری ولټول شی. دې وضعې له هغو کارونو څخه پام واړاوه چې پخوایی ښې پایلې درلودی، او د سیمه ایزو شرایطو په پیژندلو او د هغو پراساس د سمو ارزونو د تشویق په لاره کی یی ډیر لږ څه وکړل. او په پای کې په ۲۰۰۸ کال کې د کوکنارو د کښت لږوالی ددې سبب شو چې د جلا افرادو او موسسو علاقه لږ شی او نورو ستونزو ته مخ واړوی. د انتقال د دورې له رانږدی کیدلو سره سم، ځینی نوموړی حقایق په تیره بیا په غربی پلازمینو او د هغوی د رهبری په ذهنیتونو کی پاتی شول. په هرحال ځینی سوچونه او اندیښنی په تیره بیا د انکشاف د متخصصینو تر مینځ شتون لری چې په دی پوهیږی چې د مخدره توکو په ستونزو سترګی پټول د دوی په راتلونکو هڅو او کارونو بده اغیزه لری.

[۵۹] A term coined by the World Bank, referring optimistically to the period from 2015 through to 2025.

## دوهم جدول: هغه عوامل چې د مخدره توکو پرضد مبارزه له اصلي مسیر څخه راباسي

| هغه عوامل چې په پخواکی یې د مخدره توکو پرضد مبارزه له خپل اصلی مسیرونو څخه را ایستله | هغه عوامل چې کولاي شي په راتلونکی وخت کې د مخدره توکو پرضد مبارزه تشویق او ترغیب کړی |
|---|---|
| **د رهبری نه شتون:** دلوړ پوړوچاراواکو (افغانی او نړیوال) له خوا پریکړوته ژمن نه پاتي کېدل چې مخدره توکی داسی «جلا او انتزاعی» موضوع ګڼی چې کیدای شی دهغه لپاره د پروژو اضافی تمویل لاس ته راوړی | • ددی حس زیاتیدل چې «عادی او معمولی کار» د منلووړ نه ده. په دی ستونزی پوهیدل چې دمخدره توکو زیاتیدونکی اقتصاد په انکشافی لومړیتوبونو، امنیت او ښه حکومت کولو کومی اغیزی لری |
| **تخصیص:** د مخدره توکو پرضد یوه تولنه چې د مخدره توکو پرضد یې یوه پروژه یا پروګرام را مخ ته کړی وو، د مخدره توکود مشکل عمومی کول او عمده کول په هغو ځایوکی چې د کښت کمول یوه مینځ مهاله یا اوږدمهاله موضوع ده اومستقیماً د مخدره توکو پرضد بودجی سره اړیکه نه لری، ستونزمن کار ګڼی | • دمخدره توکو پرضد یوه تولنه، د MCN په شمول، چې د انکشاف په عمومی پروګرامونو کې د مخدره توکو د ستونزی په ادغام کې بیرته پاتي ده او لاهم د مخدره توکو په هکله مستقیمی هڅی یو تخنیکی دنده بولی. |
| **خطر نه منل:** د مینځ مهاله او اوږد مهاله او دساده حل لاروله کبله د انکشافی پروژو او چاراواکو له خوا د مخدره توکو د ستونزی مالکیت نه منل، چې په ډیرو موواردوکې د هغوی له اصولو او عملی تجربه سره په تضاد کې واقع دی | • ددی درک زیاتوالی چې د مخدره توکو د اقتصاد وده پر انکشافی لاس ته راوړنو اغیزه کوی او د دوامداره انکشافی مرستو په مقابل کی ستونزی مینځ ته راوړی<br>• «عادی» پروګرامونو ته له سیاسی ضرب الاجل پرته د انکشافی مرستوتدریجی انکشاف.<br>• دمخدره توکو د کنترول په تولنوکې د لا ډیری متوازنی طریقی د ضرورت په هکله د نظریوالی چې تولیزه وده په کی شامله ده؛ پراخ ویجاړولو ته لړ یا نه علاقه یا د ظرفیت نه شتون |
| **په کښت کې لړوالی:** زیاتیدونکو کرکیلی په ۲۰۰۴– ۲۰۰۷ کلونو کې د انکشافی تولنو پاملرنه ځانته واړوله،خو کله چې په ۲۰۰۸ کال کې د کوکنارو کښت لړشو، نوموړی علاقه او پاملرنه هم کمه شوه | • کښت یو ځل بیا د زیاتوالی خوا ته روان دی– دغه جدی ګواښ ته باید غبرګون وښودل شی؛ باید درک شی چې له تشدد څخه پرته کوم بل غبرګون ته اړتیا شته.<br>• تشدد به په بدل شوی امنیتی حالت او همدا ډول د نړیوالو لښکروتر وتلو وروسته، یوازنی بدیل نه وی |
| **تداوم یا جاری ساتنه:** د غربی مهمو مرسته کوونکو له خوا د فنی او تخنیکی پرسونل په کار اچول چې د «مخدره توکو د تولنی» ملاتړ یې نه درلود | • په عامه توګه د مخدره توکو ستونزه په پالیسیو او جوړښتونو کی شاملول هغه د کار طرز او رپوټونه هم په ځان کی را نغاړی چې د بریتانیا د نړیوالی انکشافی اداری او نړیوال بانک له خوا جوړشوی دی.<br>• د مخدره توکو ضد تولنه د مخدره توکو پرضد د مبارزی له عاملو کولو څخه ملاتړ کوی؛ په MCN کې د دغو هڅو بنستیز کول |
| **ظرفیت:** د مخدره موادو په ضد تولنه کې د پوهې تشه (خلا) چې دغه مبارزه او ضدیت به په هغو ډول ډول بانډی چې د کوکنارو په کرکیله کې دخیل دی څه اغیز ولری، دې خبرې د دې مانا درلوده چې په پالیسیوکې ددغی ستونزی عام کول به عملی | • راټولی شوی تجربې او د عملی معلوماتو خپرول چې د ارزونو او عملی کار لاربنوونه وکړی.<br>• د انکشافی پروګرامونو په نظارت او ارزونو بانډی ټینګښت چې د مخدره توکو ضد مبارزی په اړه په مختلفو دخیلو اړخونو د غبرګون په هکله، نوی پوهه لاس ته راوړی |
| **په برخو ویشل:** د جوړښتونو اصول د کارونو په برخو ویشل او «خپلو کارونو رسیدل» هڅوی ـهرڅوک په خپلواصولو او د پروژو په خاصو شاخصونو تمرکزکوی | • په نورو انکشاف کارونو کی د غیر تصدی نتایجو په هکله راټول شوی شواهد دغه تفکر چې ګواکی پروژوی کارونه له یو بل سره بی اړیکی یا «جلا» دی، نه تاییدوی |
| **دیر زیات مالی منابع:** د ډیرو زیاتو پروژو تمویل، په تیره بیا له ۲۰۰۹ کال را هیسی د «د ملکی موج» په جریان کی | لږ پیسی به لاس ته راتلونکی وی، نو ډیری همکاری او ګډکارته ضرورت لید کیږی |

**اساسي مشکل دا دی چې دمخدره توکو په پالیسی کې دافغانستان او غربی ملتونو له خوا، په تیره بیا په نږدی وختونوکې د کښت ډیر زیاتوالی ته په پاملرنی سره، د بدلون راوستل دی.** په افغانستان کې د مخدره توکو په اړه ډیره لنډ نظری وجود لری. په اوس وخت، په تیره بیا د سیاسی انتقال او د مرستو د ډیر لږوالی په شرایطو کې، ډیری واقعبینی او ریالیزم ته ضرورت لیدل کیږی. مخدره توکې به د افغانستان د سیاسی اقتصاد د یو نه بیلیدونکی واقعیت په توګه ادامه وکړی؛ د هیواد په فزیکی او سیاسی جغرافیا کې د مخدره توکو په رول باندی سترګې پټول مازی بی پروایی ده. د مخدره توکو له تولید څخه په لاس ته راغلو عایداتو کنترول پر معیشیت او ژوند، اقتصادی ودی او په محلاتوکې پرسیاسی جوړښت اغیزه کوی. داموضوع به د ملی امنیتی قوتونو پر روش او رفتار او د هغو په باره کې تصوراتو ته بدلون ورکړی، او ان تر دې چې په راتلونکو ټولټاکنو کې به ابزاری رول ولوبوی. پالیسی جوړونکی باید دغو واقعیتونوته پام وکړی او مخدره توکو ته د اقتصاد، سیاست او فزیکی جوړښت د یوی برخې په توګه وګوری. د اړول کتنه به هغوی بریالی کړی چې له ۲۰۱۴ کال وروسته د امنیتی، حکومت کولو، او ودې په نوو شرایطوکی دمخدره توکو په اغیزو او اغیزمن کیدلو ښه وپوهیږی.

په دی اساس، **باید ټول ملی، څوارخیزه او دوه اړخیزه پروګرامونه د تریاکو په تولید، تجارت او استفاده کولو باندی د بالقوه اغیزو پراساس تحلیل شی.** نوموړی تحلیلونه باید الزامی او د مالی او تخنیکی مرستی د تصویب یوه برخه وی چې د مالیی په وزارت پوری اړه لری. په هرحال دا دیوی قیمتی او بیروکراتیکی پروسی په مانا نه ده چې تطبیق کې به ځنډ راولي. د مخدره توکو پرضد مبارزی ته بیا کتنه د یو ښه پروګرام د جوړولو یوه برخه ده چې د مخدره توکو پرضد د مبارزې اغیزې په مختلفو اجتماعی اقتصادی ګروپونو باندی چې د کوکنارو په کرکیله کی دخیل دی، او همدا رنګه ځینی محرکونه او موجبات چې ښایی مینځ ته راشی، ملاحظه کوی. ددې تحلیلونو لپاره فورمی باید دهغو لارښوونو او رهنمودونو پراساس ولاړی وی چې نړیوال بانک په ۲۰۰۷ کال کې د مخدره توکو پرضد مبارزې کی د عمومی کولو لپاره جوړی کړی دی. اولني لومړیتوب باید د عمده ملی لومړیتوبونو پروژو او د مخدره توکو پرضد پروګرامونوته بیا کتنه وی، ترڅو د مخدره توکو بالقوه تأثیر تشخیص او اطمینان حاصل شی چې د هغو هڅی په دې عرصه کې ډیر تر ډیره اغیزی لاس ته راوړی (دریم جدول وګوری). په تیره بیا په دی اړه د مختلفو سکتورونو ترمینځ داسی ګډو او تکمیلی هڅو ته ضرورت لیدل کیږی چې پر اغیزناکو پلان جوړولو مبتنی وی. په دې توګه کیدای شی چې هم انکشافی موخی او هم د مخدره توکو پرضد د مبارزی نتیجی لوړی کچی ته ورسیږی.

**په عین حال کې واضح ضرورت دی چې نور نو د ساده بدیل معیشیت له مودلونو څخه تیرشو.** شواهد دا خبره څرګندوی چې محلی ټولنی د پراخو انکشافی موخو د تطبیق په صورت کې د تریاکو د تولید له منګولو ځان خلاصولی شی. البته له انکشافی موخو څخه منظور په لومړی قدم کې کورنیوته د بزګری، مالداری، باغداری او غیرکرنیزو سرچینو له لاری د عوایدو برابرول، او همدارنګه ټولنوته د عامه توکو تهیه کول دی چې د هغوی ټولنیز توافق له دولت سره تقویه کړی. زیاتیدونکی غیر کرنیز عواید هم کولای شی خرابو حاصلاتو، نابرابره روغتیایی ستونزو، کورنی بحرانونو او د کوکنارو د بندیز په حالت کی، د کورنیو مصئونیت تامین کړی. په عین حال کې د څارویو د روزلو برخه او سکتور کولای شی د کوکنارو د کرکیلی د کچی لږول او له نورو لارو د عوایدو لاسته راوړل او ټولنیز مصئونیت مینځ ته راولی. په دغو او نورو ساحو کې د کوکنارو د کرکیلې لږوالی، په دی شرط چې بیا په پخوانیو دښتی ځمکو کې چې د دولت له کنترول څخه وتلی دی، رواج نه شی، خورا لویی پانګونی ته اړتیا لری.

**په کلیوالو سیمو کې انکشافی پانګونی چې ریالستیکی او واقعبینانه پایلی ولری او له ۲۰۱۴ کال وروسته عملی وی، یو بل مهم ضرورت دی.** د ملی لومړیتوبونو پروژی (NPPs) په اکثریت مواردو کې د پروګرامونو د تطبیق جغرافیی ته له « اقتصادی دهلیز» او د ولایتونو په کچه پانګه اچونی څخه پرته، پاملرنه نه کوی. له دې نه علاوه، په ولایتونوکې د حکومت له خوا جغرافیایی لومړیتوبونه، او یا داچې څرنګه په ځانګړو سیموکی پانګه اچونه کولای شی د دولت له ثبات، متوازن اقتصادی انکشاف او د کوکنارو د کرکیلی څخه خلاصون، په پام کې نه نیول کیږی. په دی توګه اړینه ده چې جغرافیایی لومړیتوبونه چې له ۲۰۱۴ کال وروسته امنیتی سناریو یی ایجابوي ، مینځ ته راشی. داسی برېښي چې له انتقال وروسته به د عمده لارو او د ولایتونو د مرکزونو شا او خوا سیمی هغه ځایونه وی چې ملی امنیتی قوتونه به پرهغو تسلط ولری. په دغو ځایونو کی به انکشافی پانګه اچونه امکان ولری او دکوکنارو د کرکیلی بیا پیل کیدل ډیر امکان نه لری. په هرصورت، په ډیرو ولایتونو کې ددی امکان شته چې د امنیت خرابیدل او د دولت قرار دادی حضور د دې لامل شی چې پانګه اچونه یا بی اغیزی او یا غیرعملی شی. اصلی ستونزه به په مینځنیو سیموکی وی چیرته چې مرکزی دولت د خشونت او جبر و سیلې په لاس کی نه لری خو خپل تأثیر په محل کی د قدرت د دلالانو له لاری ساتلی شي. په داسی شرایطو کی باید محل ته د مرستو رسولو مناسبی لاری چاری، د متوقعه عوایدو انکشاف، او په نوموړو سیمو کی د کوکنارو دکرکیلی په هکله غبرګونونه، په دقت سره ترغور لاندی ونیول شی. پالیسی جوړونکی اړ دی چې په داسی یو ستونزمن محیط کې کاروکړی، مګر داچې دولت وغواړی په ښکته درو کې پاتې شی.

**دی ته ضرورت شته چې د MCN تخنیکی او استراتژیکی ظرفیت تقویت شی ترڅو د اړوندو وزارتونو سره د مخدره توکو پرضد د مبارزی له پروګرامونو څخه ملاتړ وکړی.** د دی موخی لپاره، اړوند وزارت باید یو تحلیلی او مشورتی ظرفیت جوړ کړی چې دمخدره توکو په ستونزه باندی د مختلفو بالقوه اغیزو په هکله ښه پوهه را مینځ ته کړی. دا ډول پر شواهدو ولاړه طریقه باید ددی لپاره تراستفادی لاندی ونیول شی چې د اړوندو وزارتونو د ملاتړ لپاره کرنیز او بنسټیز جوړښتونه او همدا ډول له غریبو بزګرانو سره دمرستو لپاره عملی لارښوونی، چمتوکړی.

**اړینه ګڼل کیږی چې په اوسنیو او راتلونکو څو اړخیزو تحلیلی موافقتنامو کې د مخدره توکو پرضد حساسو شاخصونو ته ځای ورکړل شی.** په توکیو کی د متقابل حساب ورکولو چوکاټ د مرسته کوونکو او افغان حکومت د اجراآتو د ارزونې او تحلیل بنسټ جوړوی. داموضوع باید د مخدره توکو پرضد حساس شاخصونه لکه په حاصلاتو او کرنیزو او غیرکرنیزو عوایدو کې د تنوع راوستل، تر څیړنی لاندی ونیسی. دغه اقدام کولای شی په کرکیلی کې دوامدار لږوالی او په هیواد کې په سیاسی جوړښت باندی د مخدره توکو اغیزی کنترول او محدودی کړی.

**دریم جدول: په نمونوی ملی لومړیتوب پروګرامونو کی د مخدره توکو په ضد د مبارزی عمومی کولو مثال**

| کلیوالو ساحوته د لاس موندنې ملی پروګرام | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د مودل بدلون | د مخدره توکو پرضد د مبارزی د عمومی کولواو سنی کچه | د تریاکو دزیات تولید خطر په هغه صورت کی چې د مخدره توکو پرضد مبارزه په لازمه کچه عمومی شوی نه وی | د خطر لړول | طرح کول | تطبیق | کنترول او ارزونه |
| د کوکنارو دکرکیلی سیموته د ملی امنیت د قوتونو لاس موندنه،<br><br>په عامه او خصوصی سکتور کې د خدمتونو ډیروالی،<br><br>کرنیز او د کار بازارونو ته دخلکو لاس موندنه<br><br>محلی خلکو ته د کار د فرصتونو او د مستقیم مزد زیاتوالی( تقریباً ۹ میلیونه کاری ورځی) | ټیټه کچه – یوازې په الفاضوکی | خطر: لوړ، په هغه صورت کې چې دعوایدو د لاس ته راوړلوپه ساحه کې – پانګه اچونه نه وی شوی<br><br>دمحلی ټولنو له خوا لارو ته د ایل کیدلو په توګه کتل چې له حکومت څخه د کرکې او په پای کې د مقاومت سبب کیږی.<br><br>د تریاکو او د هغو د مشتقاتو آسانه ترانسپورت<br><br>د تریاکو د ډیر تولید خطر په هغه صورت کې چې د مخدره توکو پر ضد مبارزه په لازمه کچه عمومي شوي نه وي | د سیمو پربنسټ پلان جوړونه چې د نورو اړوندو ملی لومړیتوبونو پروژو ترمینځ همکاری شتون ولری او د انکشاف او مخدره توکو پرضد دمبارزی لاس ته راوړنی عملی کړی.<br><br>په سیمو کی د جلا جلا پروژوڅخه ځان ساتل، چیری چې بدیلونه وجود نه لری یا د عوایدو راوړونکی پروګرامونه نشته.<br><br>په هغو لاروکی چې د کوکنارو له سیموڅخه راځی د قانون د تطبیقولو لپاره کنترول | دمخدره توکو په ضد د مبارزی د اغیز ارزونه له نورو مهمو ستونزو (جنسیت او د ژوند چاپیریال د طرحی، کنترول او ارزونې موضوع) سره یوځای کول.<br><br>د ملی پلان په چوکاټ کې د لارولومړیتوبونوته په معیارونو کې، دمخدره توکو ضد کړنلاری شاملول.<br><br>د مخدره توکو پرضد شاخصونو لکه د حاصل او عاید په تنوع کې لارو او دکوکنارو کښت ته نږدی سیموکی، د مخدره توکو ضد مبارزی شاملول | د کوکنارو د کښت په سیمو کې لومړیتوبونه چیری چې کیدای شی تطبیق له نورو ملی لومړیتوبونو پروژو سره یوځای عاید مینځ ته راوړی.<br><br>چیری چې مناسب وی د لاروپه جوړولوکې پرکار مبتنی طریقو باندی متمرکز شی، دا طریقی د کار لپاره د لوړی تقاضا په وخت کې د کرکیلی د کار مخارج لوړوی. | د ټول پروګرام په ارزونه کې د مخدره توکو پرضد مبارزی او دهغه اغیزی ته ځای ورکول،<br><br>په سیمه مبتنی تحلیل وکړی ترڅو وکړای شی د انکشاف نتایج او دکوکنارو د کرکیلی اغیزی وارزوی. |

**دریم جدول: په نمونوی ملی لومړیتوب پروګرامونو کی د مخدره توکو په ضد د مبارزی عمومی کولو مثال**

| کلیوالو ساحوته د لاس موندنې ملی پروګرام | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د مودل بدلون | د مخدره توکو پرضد د مبارزی د عمومی کولواو سنې کچه | د ترياکو دزیات تولید خطر په هغه صورت کی چې د مخدره توکو پرضد مبارزه په لازمه کچه عمومی شوی نه وی | د خطر لړول | طرح کول | تطبیق | کنترول او ارزونه |
| په خړوبو ځمکو کې د کوکنارو کرل ډیر حاصل ورکوی، د نورو کرنیزو لوړقیمته حاصلاتو په پرتله داوبو د کموالی په صورت کی لږ زیان منونکی ده، او له محدودو حاصلاتو څخه دی چې کولای شی له ژوروڅاګانو څخه داوبولګولو مخارج وزغمی.<br><br>NWNRDP اوبولګولو ته لاس موندنه په لوړ قیمته کرنیزه حاصلاتو کی، آسانه کړی ده؟ | ژوروڅاګانوته دلاس موندنی په رناکی – ټیټه ده<br><br>له اوبو څخه استفاده کوونکو اتحادیوباندی د شرطونو اینودل(په کوکنارکی لږوالی، د انکشافی مرستو لپاره د شرط په توګه)<br><br>د یوی هراړخیزی ستونزی په توګه د مخدره توکو موضوع په یوی برخی کی شاملیدل؛ خو په اصلی متن او سند کی په کافی اندازه د هغی دعمومی کولونه شمول | خطر: لوړ<br><br>د ۱۵۴,۰۰۰ هکتاره خړوبې ځمکی زیاتول؛ په هغو سیموکی چې محصولاتو د تنوع او غیر کرنیزو عوایدو شتون مساعد نه وی د کوکنارو د کرکیلی بالقوه زیاتوالی | په سیمو مبتنی پلان جوړونه او په NPPs پوری اړوندو پروژو ترمینځ د انکشافی موخو او له مخدره توکو سره د مبارزی لپاره ګډی هڅی.<br><br>په جلا توګه د پروګرامونو له تطبیق څخه ډډه کول په ټیره بیا په هغو سیموکې چې د معیشت مناسب بدیلونه موجود نه وی او یا د عوایدو د لاس ته راوړلو پروژی تطبیق شوی نه وی | د اوبو لګولو د پلانونو په ارزونه کې د مخدره توکو پرضد د مبارزی د پالیسی د ارزونې اجباری شاملول؛ په ټیره بیا په هغو سیمو کې د اوبو لګولو لویی پروژی چې د کوکنارو کرکیله سابقه لری.<br><br>له مخدره توکو سره د مبارزی د شاخصونو لکه د محصولاتو او عوایدو د تنوع شاملول په هغو سیمو کی چې لارو او د کوکنارو کرکیلوته نږدی وی.<br><br>له شرط اینبو دلو څخه چې په افغانستان کی یې ښه نتیجه نه ده ورکړی ډډه کول[1] | په ۷. ۴. ۳. ۵ اجزاوو کې له مخدره توکو سره د مبارزی د ښه درک او پوهی شاملول («داوبو لګولو د اجتماعی اقتصادی تأثیر په اندازه کولوکی د ظرفیت لوړول») | له مخدره توکو سره د مبارزی د شاخصونو مقایسوی ارزونه.<br><br>د انکشافی نتیجو او د کوکنارو پرکرکیلی د اغیزو سیمه ییز تحلیل |

[1] See Mansfield, David (2002) “The Failure of Quid Pro Quo: Alternative Development in Afghanistan”. Paper prepared for the International Conference on Alternative Development in Drug Control and Cooperation, Feldafing (January 7-12).

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد وروستي خپرونې

- په افغانسان کی د ښځو اقتصادی غښتلتوب او وړتیا : د فرصتونومنځ ته راوړل او د چاپېریال چمتو کول، لینا ګنیش*
- په افغانستان کې د اوبو ښه مدیریت نمونه: خالیګاوی او فرصتونه، توماس ونسنټ
- له کوکنارو څخه لېر خلاصون او د کوکنارو لېر له مینځه ورل: په ۲۰۱۱– ۲۰۱۲ کلونو کی د بلخ او بدخشان په ولایتونوکی د کوکنارو کرکیله، پاول فیشستین
- ځمکه، ولس، او دولت په افغانستان کې ۲۰۰۲ – ۲۰۱۲ ، لیز آلدن ویلی*
- ټول شرط ترل منع دی! توافق ته د رسیدلو نندارہ او په هلمند او ننګرهار کې د انتقال په بهیر کی د مخدارتو کنټرول، ډیوید منسفیلډ
- د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود یوولسم ګنه ۲۰۱۳*
- یوی دلی په ولکه (انحصار) کی: د افغانستان د شمال اقتصاد تر ۲۰۰۱ کال وروسته، انتونیو جیستوزی
- د ځمکی اداره په مهم پړاوکی د افغانستان د ځمکی د نوی وړاندیز شوی قانون یوه بیا کتنه ، لیز آلدن ویلی*
- د افغانستان د ټاکنو د سیستم جوړونه د اصلاحاتو لپاره دلایل او اختیارونه، اندرو رونالډز او جان کیری*
- د ښځو پر ژوند د کوچنیوپورنو د پروګرامونو اغیزه: د بلخ په ولایت کی یوه موضوعی خیرنه، چونا ایچاویز، سوګل زند او جنیفر باګوپورا
- خالیګاه وته پاملرنه؟ د افغانستان د پنج امو د سیند په ډنډوکی کی داوبو د تخصیص د محلی عادات او رواجونو د پاره بنیادی اصلاح، توماس ونسنت*
- ایا د ملی پیوستون پروګرامونوکی د ښځو ګډون کولای شی د دوی په ژوندانه کی بدلون راولی؟ د موضوعی څېړونو لری د کابل د بلخ په ولایت کی، چونا ایچاویز
- جنسیت او اقتصادی غوراوی: په افانستان کی د ښځو لپاره څه زاره او څه نوی او عادی دی، چونا ایچاویز

*دغه علامت ښه ی چه خپرونی او یا هم د هغوی لنډیز په پښتو ژبه تر لاسه کیږی.

### د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څیړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څیړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څیړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې اداره په ۱۳۸۱ کال کې په افغانستان کې د بوختو مرستندویو ټولنو په زیار رامنځ ته شوه او د بسپنه ورکوونکو ، ملګرو ملتونو او نورو څو اړخیزو ادارو او غیر حکومتي سازمانونو په استازیتوب د یوه مدیره پلاوي درلودونکې ده.

په ۲۰۱۳ میلادی کال کې ځانګړی پروژی د اروپایی کمیسیون (EC)، د سویس د همکاری او انکشاف اداری (SDC)، د (ODI) انستیتوت، د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام (UNDP)، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری (UNHCR)، په ملګرو ملتونوکی د ښځو سازمان او همدا ډول د فنلینډ سفارت له خوا تمویل کیږی.

**دغه سند د اروپایی اتحادیې په مالی مرسته جوړشوی دی. د یاد سند متن یوازی د افغانستان د څیړنی او ارزونې د اداری (AREU) مسئولیت دی او په هیڅ توګه د اروپا د اتحادیې د موقف څرګندوی نه ګڼل کیږی.**

© ۱۳۹۲ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد. ټینې حقونو خوندي دي. دا خپرونه ښایي بیاځلې تولید، ارشیف او د غیر اقتصادي موخو لپاره ولېږل شي، چې په دې صورت کې بې د لیکلو اعتبار په لیکوال پورې اړه لري. که دا خپرونه بیا ځلي تولید، ذخیره یا د وېبپاڼې له لارې خپرېږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد وېبپاڼه www.areu.org.af باید ورسره وي. د موادو د کاپي کولو لپآره باید د خپرندویه مرکز لیکلي اجازه واخیستل شي. په لاندې برېښنا لیک او ټلیفون لیکلي اجازه ترلاسه کولی شي.

طرح او دیزاین: احمد سیر علمیار
د نشرئی کود: D ۱۳۰۹